www.lorkhud.com

# د ځان ژغورنې کلا



ليكوال: دكتور عبد الله بن محمد السدحان
ژباړن: انديال ساپی

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

د کتاب خپروني لړۍ ۳۱

ISLAMI LARKHUD

# د ځان ژغورنې کلا

لیکوال:

د/عبد الله بن محمد السدحان

ژباړن

اندیال ساپی

اسلامي لارښود

+966 509 386 133

andyal.safi@gmail.com

www.larkhud.com

الممسوحة ضوئيا بـ CamScanner

# يادونه

د اسلامي لارښود سائټ www. Larkhud. com له ليکلي موافقي پرته هيڅ چاته اجازت نه ورکوي چې نشريات يې په کتابي بڼه نشر او اشاعت کړي، دا عمل غير اخلاقي او قانوني جنايت بولي، د سرغړوني په صورت کې د هر ډول محکمي بشپړ حقوق لري.

اسلامي لارښود دعوتي خپرونديه اداره ده، له هېڅ چا سره سياسي اړيکې نه پالي او نه د کوم ګوند او يا تنظيم ترجماني کوي او نه د ليکوالانو د ليکنو او کتابونو د ملاتړ مسؤليت په غاړه اخلي، هر ليکوال د خپلې ليکنې عند الله او عند الناس مسؤول دی.

په درنښت

د اسلامي لارښود سائټ اداره

www. Larkhud. com

Scanned by CamScanner


بسم الله الرحمن الرحيم

## د کـــــتاب ځانـــــــــــګړنې

---

د کتاب نوم: د ځــــان ژغورنې کلا
ليکوال : د / عبد الله بن محمد السدحان
ژباړن : انـدیال ساپی(نورحبیب امیري)
کمپوز : ژباړن
چاپ کال : ناچاپ
چاپ شمیر: ٠٠٠
خپرندوی: ریـان اسـلامي کتابتـون او د اسلامي لاربښود سایټ

---

د چاپ ټول حقوق له ژباړن او د اسلامي لاربښود سایټ اداري سره خوندي دي

## د شیخ د/ عبد الله بن عبدالرحمن بن جبرین تقریظ

الحمد الله رب العالمین، والثناء لوجه هو ربي لا إله إلاهو علیه توكلت وإلیه متاب، وصلي الله على عبده ورسوله محمد وعلى آله وأصحابه وبعد:
ما هغه رساله ولوسته چې ورور عبدالله بن محمد بن عبدالرحن السدحان له شر او زيان څخه د ژغورونكو اذكارو په اړه ليكلي ده، واقعا چې د قران كريم او صحيحو حديثونو په رڼا كې يې اسان او لنډ اذكار راټول كړي، چې دهغې په اغيز او گټو باندې يې د مشهورو صحيحو حديثونو څخه استدلال كړي، او يادونه يې كړي چې دا پرلپسې تجربه شوي، فائده يې محسوسه او اغيز يې ښكاره دى ، ځكه دا د نبى صلى الله عليه وسلم له ويناوو، او هغه د صحابوو اوپيرويانو له تجربو څخه دي، له دې امله مونږ هر مسلمان ته چې دخپل رب اطاعت كوي، دځان او خپلو مسلمانانو ورڼو لپاره خلاصي غواړي د استعمال لارښوونه كوو، مونږ په فردي(وگړيزه) او ټولينزه توگه نصيحت كوو چې پدې سره د ځان ساتنه وكړئ، په رښتنولى يې عقيده ولرئ، ترڅو الله جل جلاله دوى ته له ټولو شرونو څخه نجات وركړي، دپيريانو انسانانو د نظر ، ساحرانو او هغوى د ملگرو له لورې له هرې بدۍ يې وساتي، يقينا مصيبتونه لوى شوي، تكليفونه ډېر شوي او شيطانان د ځينو مسلمانانو په تصرف برلاسه شوي چې درملنه ستونزمنه ده، د دې ټولو لامل د اذكارو او دعاگانو څخه لا پروايي، په بې ځايه او باطلو شيانو مشغولېدل ،عكسونو او سندرو ته مخه كول دي، چې لامله يې په دوى شيطانان مسلط او ښكاره برلاسي شول.

الله جل جلاله څخه د حفاظت او ساتنې سوال كوو، خپلو نفسونو د شر او شيطان له وسوسو څخه ترې پناه غواړو.

**١٤١٨/١/٢٦هـ**

**عبد الله بن عبدالرحمن بن جبرين**

**افتاء د كمېسون متقاعد غړی**

iLovePDF

# د ليکوال سريزه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستهديه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، والصلاة والسلام على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وبعد:

ځينې ورونړو له ما څخه وغوښتل چې په اذکارو کې داسې يو کتاب وليکم چې نه ډېر اوږد وي چې د سترتيا لامل وگرځي او نه ډېر لنډ وي چې د ليکنې موخه اخلال کړي، ځينې علماوو د اذکارو په اړه ډيرکتابونه ليکلي چې تکرار او د سندونو راوړلو اوږد کړي دي، چې د اړو کسانو همت هغی د لوستلو پاتې راغلی.

امام بخاري – رحمه الله- د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي، چې بې شکه هغه فرمايلي دي:« إِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ »[١].

ژباړه: کله چې درته په کوم شي امر وشي نو د خپل توان په اندازه يې ترسره کړئ.

له امام ابو عمرو بن صلاح څخه د هغه مقدار په هکله وپوښتل شو چې مسلمان نارينه او ښځينه پرې د الله جل جلاله له ذکر کوونکو څخه شمېرل کيږي، هغه وويل:( کله چې سحر او ماښام، دشپې او ورځې په مختلفو

---

(١) بخاري:(٧٢٨٨)،او مسلم:(١٣٣٧).

حالاتو او وختونو کې د مأثور او ثابتو اذکارو په ویلو همیشوالی کوي).
عبد الله بن بسر رضي الله عنه وايي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یو سړي وپوښتل: ای د الله تعالی رسوله د اسلام احکام په ما ډېر شوي، داسې څه راوښایه چې زه پری ټینګ پاتې شم، هغه ورته وفرمایل:« لَا يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ »[1].
ژباړه: ستا ژبه دې تل دالله جل جلاله په ذکر لمده وي.
په دې کې شک نشته چې تل لږ غوره وي د هغه ډېرو نه چې کله کله وي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:«خَيْرُ الأَعْمَالِ إِلَى اللَّهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ»[2].
ژباړه: د الله جل جلاله په وړاندې غوره عمل هغه دی چې تل وي که څه هم لږ وي.
په دې لنډ کتاب کې ما هغه ورځني اذکار چې په صحیحوحدیثونو کې ثابت دي او د هغې تجربه شوې ګټورې پایلې راټولې کړي، زما په الله قسم چې څوک په دې عمل او همیشوالی وکړي[3] نو خپل ځان، کورنۍ، شتمنۍ او اولادونه به د شیطان له چلونو او وخت له افتونو خوندي کړي، الله تعالی به يې له هر څه پوره شي او د هغه ساتنه به وکړي.

(١) صحيح الترمذي:(١٣٩/٣).
(٢) بخاري:(٦٤٦٥).
(٣) له دې نه یوازې په دې اذکارو بسنه او د نورو پریښودل نه دې مراد، بلکې دا بائد اصل وګرځي او د نورو ویل لا غوره کار دی.

iLovePDF

د الله جل جلاله څخه پخپله موخه کې د توفيق مرستې او اسانۍ سوال کوم چې دا کتاب د هغه چا لپاره يو باوري اصل وګرځوي چې غواړي د ځان ساتنه او حفاظت وکړي.

iLovePDF

# ژغورونـــــکي وینـــــــــاوې

## لومړی: بسم الله ویل

ژباړه: پیل کوم په نوم د الله

**د ویلو طریقه:** د هر مهم کار له پیل څخه مخکې ویل.

**تجربه شوې ګټورې اغیزې:**

**(١) شیطان سره له یو ځایه خوراک کولو او د شپې له تیرولو څخه خوندي کېدل:**

رسول صلي الله علیه وسلم ویلي دي:«إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ، فَذَكَرَ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ وَعِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: لَا مَبِيتَ لَكُمْ، وَلَا عَشَاءَ، وَإِذَا دَخَلَ وَلَمْ يَذْكُرْ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ، قَالَ الشَّيْطَانُ: أَدْرَكْتُمْ الْمَبِيتَ، فَإِذَا لَمْ يَذْكُرْ اللَّهَ عِنْدَ طَعَامِهِ، قَالَ: أَدْرَكْتُمْ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ»[1].

ژباړه: کله چې یو څوک په تاسو کې خپل کور ته ننوځي، د ننوتلو او خوراک پر وخت دالله جل جلاله یادونه وکړي نو شیطان وایي: ستاسې لپاره نه د شپې تیرول شته او نه د ماښام خواړه، او کله چې یو څوک داخل شي او دننوتلو پر مهال د الله تعالی یادونه ونه کړي نو شیطان وایي: شپه مو

(١) امام مسلم روایت کړی:(٢٠١٨).

تر لاسه كړه، او كله چې ماښام د ډوډۍ پر وخت بسم الله ونه وايي نو شيطان وايي: د ماښام خوراک او شپه تيرول دواړه مو ترلاسه كړل.

## (٢) په كار كې دبركت پوره والى:

د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په مختلفو طريقو روايت دي، هغه فرمايي:« كُلُّ أَمْرٍ ذِي بَالٍ لَا يُبْدَأُ فِيهِ بِبسم اللَّهِ،وفي رواية( بذكر الله) فَهُوَ أَقْطَعُ، وفي رواية( فهو أبتر)»[١].

ژباړه: هر مهم كار چې په بسم الله پيل نشي بل روايت كې راځي چې د الله جل جلاله په يادونه پيل نشي نو دا پرې شوى دى، په بل روايت كې راځي دا د بركت له پلوه نيمګړى دى.

## (٣) له شيطان څخه پټوالى(پرده) او له زيانه يې خوندي كېدل:

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « سَتْرُ مَا بَيْنَ أَعْيُنِ الْجِنِّ وَعَوْرَاتِ بَنِي آدَمَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُهُمُ الْخَلَاءَ أَنْ يَقُولَ: بِاسْمِ اللَّهِ »[٢].

ژباړه: انسانانو د شرمګاو او پيريانو د سترګو ترمنځ پرده دا ده چې كله له دوى څخه څوک د اودس ماتي ځاى ته ننوځي نو بسم الله دې ووايي.

---

(١) ابن الصلاح او نووي پخپل كتاب الأذكار كې ورته صحيح ويلي دي، امام البانى رحمه الله وايي: په نورو شواهدو سره د حسن په درجه كې دى.

(٢) امام ترمذى روايت كړي، امام البانى رحمه الله ورته په خپل كتاب صحيح الترمذى كې صحيح ويلي دي:(٤٩٦).

## د تجربې پايله:

كله چې خالد بن وليد رضي الله عنه حيري[(۱)] ته لاړ ورته وويل شو له زهرو ځان ساته او له عجمو څخه اوبه مه څكوه، خالد رضي الله عنه وويل: ماته زهر راوړئ په لاس كې يې ونېول او بيا يې د بسم الله په ويلو سره وڅكل نو هيڅ زيان يې ور ونه رسولو[(۲)].

## اړينه فائده:

دا د بسم الله ويلو په ګټو او بركت دليل دى،مسلمان ته پكار دي چې خپله ژبه هر وخت په هر كار كې په بسم الله ويلو روږدي(عادت) كړي، تر څو الله جل جلاله يې په كړنو كې بركت واچوي، شيطان تر جلا شي او له شره يې خوندي پاتې شي.

iLovePDF

---

(۱) په شام كې د يو ځاى نوم دى.

(۲) بيهقي، أبو نعيم، طبراني او ابن سعد-رحمهم الله- په صحيح سند ذكر كړي، وګوره تهذيب التهذيب د ابن حجر-رحمه الله- :(۱۲۵/۳).

## دوهم: سورت فاتحه لوستل:

**«بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (١) الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٢) الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (٣) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (٤) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٥) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (٦) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ».**

ژباړه: د الله په نوم چې ډېر زيات مهربان، پوره رحم لرونکی دی،ټوله ثنا او ستاينه يوازې الله لره ده، چې د ټولو کائيناتو پالونکی دی، ډېر زيات مهربان، پوره رحم لرونکی دی، د جزا د ورځې مالک دی، موږ همدا ستا عبادت کوو او هم دا ستا څخه مرسته غواړو، موږ ته سمه لاره وښايه؛ د هغو کسانو لار چې تا پرې پېرزوېنه کړې ده، چې غوسه پرې نه ده شوې او بې لارې شوي نه دي.

**د ويلو طريقه:** هر مرض د دمولو لپاره يو ځل، يا درې ځل، يا اوه ځل او يا له دې څخه زيات لوستل.

### تجربه شوې گټورې پايلې:

(١) دهر زهريله شي د چيچلو درملنه:

له ابو سعيد الخدرى رضى الله عنه نه روايت دى فرمايي:« أَنَّ رَهْطًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفْرَةٍ سَافَرُوهَا، حَتَّى نَزَلُوا عَلَى حَيٍّ مِنْ أَحْيَاءِ العَرَبِ، فَاسْتَضَافُوهُمْ فَأَبَوْا أَنْ يُضَيِّفُوهُمْ، فَلُدِغَ سَيِّدُ ذَلِكَ الحَيِّ، فَسَعَوْا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لاَ يَنْفَعُهُ شَيْءٌ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَوْ أَتَيْتُمْ هَؤُلاَءِ الرَّهْطَ الَّذِينَ نَزَلُوا بِكُمْ، لَعَلَّهُ أَنْ يَكُونَ عِنْدَ بَعْضِهِمْ شَيْءٌ، فَأَتَوْهُمْ، فَقَالُوا: يَا أَيُّهَا الرَّهْطُ إِنَّ سَيِّدَنَا لُدِغَ،

iLovePDF

وَسَعَيْنَا لَهُ بِكُلِّ شَيْءٍ لاَ يَنْفَعُهُ، فَهَلْ عِنْدَ أَحَدٍ مِنْكُمْ مِنْ شَيْءٍ؟ فَقَالَ بَعْضُهُمْ: نَعَمْ، وَاللَّهِ إِنِّي لَرَاقٍ، وَلَكِنْ وَاللَّهِ لَقَدِ اسْتَضَفْنَاكُمْ فَلَمْ تُضَيِّفُونَا، فَمَا أَنَا بِرَاقٍ لَكُمْ حَتَّى تَجْعَلُوا لَنَا جُعْلاً، فَصَالَحُوهُمْ عَلَى قَطِيعٍ مِنَ الغَنَمِ، فَانْطَلَقَ يَتْفِلُ عَلَيْهِ، وَيَقْرَأُ: الحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ العَالَمِينَ فَكَأَنَّمَا نُشِطَ مِنْ عِقَال»(١).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم له ملګرو (صحابوو) څخه یوه ډله په سفر لاړه، تر دې چې دعربو له کلو څخه یو کلي ته ورغلل، له کلیوالو څخه یې د میلمستیا غوښتنه وکړه هغوی یې له میلمستیا انکار وکړ، د دغه کلي ملک (سرادار) وچیچل شو، دکلي خلکو یې په هرڅه د تداوی هڅه وکړه خو هیڅ فائده یې ورنکړه ځینو وویل کچېرې دغه راغلي مسافروته ورشو ښایي دوی سره د تداوی لپاره څه وي، دوی ته راغلل او ورته یې وویل: ای مسافرو زمونږ ملک چیچل شوی مونږ یې په هر څه د تداوی هڅه وکړه، خو څه فائده یې ورنکړه، په تاسې کې له کوم یو سره دعلاج لپاره څه شته، ځینو وویل: هو، په الله قسم زه دم ګری یم، په الله قسم چې له تاسې مو د میلمستیا غوښتنه وکړه خو تاسو انکار وکړ، زه تر هغې دم نه کوم چې تاسې مونږ ته بدله رانه کړئ، د ګډو په یوه رمه یې ورسره جوړ جاړی وکړ، په هغه یې د لاړو توکل او د سورت فاتحې لوستل پیل کړل، داسې و ګویا چې دی له تړلو غوټو(پړو) خلاص شوی وي.

---

(١) بخاري:(١٠/١٩٨)،او مسلم:(٤/١٧٢٧).

## (٢) د ليونتوب لپاره فعال علاج:

خارجه له خپل تره روايت كوي، وايي: أَقْبَلْنَا مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَيْنَا عَلَى حَيٍّ مِنَ الْعَرَبِ، فَقَالُوا: نُبِّئْنَا أَنَّكُمْ جِئْتُمْ مِنْ عِنْدِ هَذَا الرَّجُلِ بِخَيْرٍ، فَهَلْ عِنْدَكُمْ دَوَاءٌ أَوْ رُقْيَةٌ؟ فَإِنَّ عِنْدَنَا مَعْتُوهًا فِي الْقُيُودِ. قَالَ: فَقُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ: فَجَاءُوا بِالْمَعْتُوهِ فِي الْقُيُودِ، قَالَ: فَقَرَأْتُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً، أَجْمَعُ بُزَاقِي، ثُمَّ أَتْفُلُ، قَالَ: فَكَأَنَّمَا نَشطَ مِنْ عِقَالٍ قَالَ: فَأَعْطَوْنِي جُعْلًا، فَقُلْتُ: لَا حَتَّى أَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ: «كُلْ لَعَمْرِي مَنْ أَكَلَ بِرُقْيَةِ بَاطِلٍ لَقَدْ أَكَلْتَ بِرُقْيَةِ حَقٍّ»(١).

ژباړه: مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم له خوا څخه دعربو يو كلي ته راغللو، دوى وويل: مونږ خبر شوي يو چې تاسې ددغه سړي له خوا څخه په خير راغلي ياست ، ايا له تاسو سره كوم دم يا دوا شته، ځكه له مونږ سره تړل شوي ليونى دى، هغه وويل: مونږ ووېلي هو، هغه وويل: ليونى يې تړلي راوستلو، هغه وويل: ما پرې دري ورځې د سحر او ماښام له خوا سورت فاتحه ولوستله، لاړې به مي راټولولى او بيا به مې په هغه وروتوكلي، هغه وويل: دا داسې وه گويا چې دى له پړو خلاص شوى وي، ماته يې انعام راكړ ماوويل تر هغه يې نه اخلم چې په اړه يې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ونه پوښتم، نو ما ترې وپوښتل هغه وويل: ويې خوره زما دې قسم وي چا په ناروا دم وخوړه يقينا تا خو په رښتنى دم وخوړه.

---

(١) امام أبو داود روايت كړى:(٣٨٩٦) سند يې حسن دى.

## (۳) د پړسوب تداوی:

ابن حجر هیثمي د عراق له ځینو مشایخو نقلوي دی وايي: په وړوکوالي کې زما د بنو د پاسه د غوټې په شکل دانه وه کله چې لوی او بالغه شوم، نو بانه مې درانه شو ماته وویل شو: چې په بغداد کې یو یهودي طبیب دی دبنو پاس طرف څیروي او دانه راوباسي، خو له دې امله چې یهودی و زما زړه ونه منله، څه وخت ما په خوب کې ولیدل چې څوک راته وايي: د اودس کولو پر وخت په دې سورت فاتحه ولوله، څو ورځې ما دا کار وکړ، زه لګیا وم مخ او د سترګو بانه مې وینځل چې دغه مهال غوټه پخپله راووتله او اثر یې له مینځه ولاړ، نو پوهه شوم چې دا کار سورت فاتحې د لوستلو په برکت وشو، ما به په دې سره د تبو او نورو ناروغیو درملنه هم کوله چې زیاتره به یې د الله تعالی په فضل سره رغیدلي[1].

## (۴) د دردونو مرهم (دابن قیم رحمه الله کیسه):

عبد الملک بن عمیر وايي : رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «فِي فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ»[2].

ژباړه: د فاتحې په سورت کې د هرې ناروغۍ درملنه ده.

ابن القیم رحمه الله وايي:(څه وخت زه په مکه کې پاتې کېدم، ماته

(۱) د اثار د ابن حجر په الأذکار کتاب کې ذکر شوی، تحقیق مشهور سلطان(ص۲۷).

(۲) دارمي په سنن کې:(۲/۴۴۵)، او بیهقي په شعب الإیمان کې ذکر کړی:(۱/۲/۳۵۷)، دا حدیث مرسل او د جید سند واله دی، سیوطي په الدر المنثور کې وايي:د سند رجال یې ثقات دی:(۱/۵).

ځینی ناروغۍ رارسیدلي، ډاکټر او درمل به مې نه موندل، دځان تداوي به مې په سورت فاتحه کوله، ما د هغې ناشنا اغيز وليد، چا چی به له درد څخه شکایت کولو ما به دغه ورښووله، چې زیاتره به يې ډیر زر رغیدل)[1].

په سورت فاتحې سره په رښتنې ډول د ډېرو نفسي او عضوي ناروغيو تداوي شوي دي، چې د الله جل جلاله په فضل سره بشپړې روغې شوې دي، دا پوره ده چې رسول صلى الله عليه وسلم رقيه (دم) نومه ويلي، اوکوم ټاکلی مرض يې نه دی ښوولی.

(١) الجواب الكافي د ابن القيم:(ص٨).

iLovePDF

## دريم: ايت الكرسي لوستل:

**الله جل جلاله فرمايي: ((اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ)).**

ژباړه: د الله جل جلاله پرته بل هېڅوک د بندگی وړ نشته،هغه ابدي ژوندي او د ټول كائنات تنظيمونكی دي ؛ هغه نه ويديږي او نه پرېشاني پرې راځي. په اسمانونو او ځمكه کې چي هر څه دي، د هغه په اختياركې دي. څوك د هغه په وړاندي د هغه له اجازې پرته سپارښت کولای شي؟ - څه چي د بندگانو په وړاندې دي په هغو هم خبر دی او څه چي د بندگانو څخه پټ دي په هغو هم؛ او هغوی د هغه له معلوماتو څخه هيڅ شي د ادراك توان نه لري؛ مگر دا چي الله جل جلاله پخپله د كوم شي علم وركول وغواړي. خوره شوي ده كرسي د هغه پر اسمانونو او ځمكه باندې او او نه ستړی کوی هغه لره ساتنه ده دی دواړو . يوازي هماغه (الله جل جلاله ) يو لوی او لوړ ذات دی.

**د ويلو طريقه:** يو ځل سحر يو ځل ماښام، دويد كيدو پر وخت، او د هر فرضي لمانځه څخه وروسته ويل.

## تجربه شوې ګټورې پايلې:

### (١) د ملائکو له لورې د شپې لخوا څارونکی:

له ابو هريره رضی الله عنه روايت دی، وايي:(وَكَّلَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ) - فَذَكَرَ الحَدِيثَ فَقَالَ فِي أخره:( إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الكُرْسِيِّ، لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللَّهِ حَافِظٌ، وَلاَ يَقْرَبُكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ)،.فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ ذَاكَ شَيْطَانٌ»[١].

ژباړه: زه رسول صلی الله علیه وسلم رمضان د مياشتې په زکات ساتلو مکلف کړم ماته يو راتلونکی راغلی چې له طعام څخه يې لپې اخستلي) حديث ذکر کوي او د حديث په اخر کې وايي:(کله چې ته دخوب ځای ته لاړ شي نو ايت الکرسي ولوله يقينا تا سره به هميشه د الله جل جلاله له لورې ساتونکی وي او تر هغې به درته شيطان درنږدې نشي چې تر څو سبا کړي). نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:« تا ته يې ريښتيا ويلي خو هغه دروغژن دی هغه شيطان دی».

همدا رنګه د هر فرضي لمانځه څخه وروسته ويل کيږي، له ابی امامه رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ إِلَّا أَنْ

(١) بخاري:(٢٣١١).

يَمُوتَ»[١].

ژباړه: څوک چې د هر فرضي لمانځه څخه وروسته ايت الکرسي ووايی پرته له مرگ څخه به يې بل څه جنت له ننوتلو منع نه کړي.

## (٢) له کورونو او ودانيو څخه د شيطانانو شړل:

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روايت دی يقينا هغه وايي:(د رسول الله صلی الله عليه وسلم له ملگرو څخه يو کس د پيريانو څخه له يو پيري سره مخامخ شو، نو له هغه سره غيږ ونيوله، نو پيری يې راوپرځولو، انسان ورته وويل: زه تا ډېر خوار او دکمزوری بدن څښتن وينم، ستا پښتې د سپي د پښتيو په څېر دي، تاسې ټول پيريان داسې ياستی که نه ته د پيريانو له ډلې څخه داسې يې ،هغه ورته وويل: نه په الله قسم زه له هغوی څخه پياوړی يم، خو له ما سره يو ځل بيا غيږ ونيسه، که دې راوپرځولم، نو داسې څه دربنايم چا تا ته گټور وي، هغه وويل: سمه ده، نوپيری يې دويم ځل هم راوغورځولو ، پيري ورته وويل: ( ايت الکرسی) ووايه، يقينا دا به ته په يو کور کې نه لولې مگر دا چې شيطان به له هغه څخه په داسې حال کې وځي چې دهغه لپاره به د خره د اواز په څېر اواز وي(تيزونه) او بيا تر د سحره پورې داخل نشي. صحابو وويل: ای ابا عبد الرحمن دغه کس څوک و؟ هغه وويل:ايا تاسی يې له عمر بن الخطاب رضي الله څخه پرته بل څوک

---

(١) امام نسائي روايت کړی، وگوره صحيح الجامع:(٣٣٩/٥).

وينئ؟)[١].

ابن ابي الدنيا له وليد بن مسلم څخه ذکر کوي: د يو سړي په ونه کې حرکت تر غوږو شو، اواز يې وکړ، چا ځواب ورنکړ، ايت الکرسي يې ولوستله نو شيطان ورته له ونې راښکته شو، سړي ورته وويل: له مونږ سره ناروغ دی په څه يې تداوي وکړو؟ هغه ورته وويل:په هغه څه يې تداوي وکړه په کوم چې دې زه له ونې راښکته کړم!!!)[٢].

د دغې سړي ناپوهي ته وګورئ چې له شيطان څخه خپل مريض د درملنې پوښتنه کوي او په هغه پسې بيا د شيطان ملندې وهل، په داسې حال کې چې درملنه يې پخپل لاس کې وه، هم دا حال په اوسني وخت کې د ځينو هغه ناپوهه دم ګرو هم دی چې له پيريانو څخه سوال کوي.

(١) سنن الدرامي:(٢/٤٤٧-٤٤٨)، سند يې جيد دی، بيهقي په مختصر دلائل النبوة کې ذکر کړي:(١٢٣/٧).

(٢) لقط المرجان د سيوطي:(ص١٥٠).

## څلورم: د سورت بقرې وروستې دوه ایتونه لوستل:

الله جل جلاله فرمایې:((آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ(٢٨٥) لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ)). [البقرة :٢٨٥-٢٨٦].

ژباړه : پیغمبر صلی الله علیه وسلم ایمان راوړی دی په هغه څه چې د رب له لورې پر هغه نازل شوي، او مؤمنانو هر یو ایمان راوړي دي په الله د هغه په ملائکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو(دوی وایي) مونږ د الله په رسولانو کې یو له بله توپیر نه کوو(په ایمان راوړلو کې)،دوی وایي: موږ حکم واورېدی او اطاعت مو ومانه. ای زموږ څښتنه! موږ ستا څخه د گناه ښښنې غوښتونکي یوو او همدا ستا لوري ته زموږ درتگ دی."

الله هیڅ نفس ته د هغه له وسي څخه پورته مسئولیت نه متوجه کوي. چا چي څه ښه کړي دي د هغو غوره بدله د هماغه ده او چا چي څه بدي کړی دي د هغې گناه پرهماغه ده. (مؤمنانو! تاسي داسې دُعا وکړئ) "اې زموږ ربه! که زموږ څخه څه هېره او خطا شوي وي، موږ پرې مه نیسه. ای زموږ ربه! پر موږ هغه پېټی مه ږده چي زموږ څخه دي پر مخکینیو خلکو ایښی ؤ. زموږ څښتنه! د کوم پېټي د پورته کولو وس چي په موږ کې نشته، هغه پر

موږ مه بډه؛ زموږ سره اساني وکړه، زموږ (له گناهونو) څخه تېر شه، رحم را باندي وکړه، ته زموږ کار جوړوونکی یې، د کافرانو په مقابل کې زموږ مرسته وکړه."

**د ویلو طریقه:** ماښام یو ځل، یا له ویده کیدو څخه مخکې او یا په کور کې لوستل.

## تجربه شوی گټورې پایلې:

**(۱)له هر څه کفایت(بسنه):**

أبو مسعود الانصاري رضي الله عنه له نبي صلي الله علیه وسلم څخه روایت کوي بې شکه هغه وفرمایل: «مَنْ قَرَأَ بِالْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ»[1].

ژباړه: څوک چې د سورت بقرې وروستې دوه ایتونه د شپې له خوا ولولي دهغه لپاره به له هر څه کافي شي.

**(۲) د دري شپو لپاره شیطان له کوره شړل:**

حاکم د نعمان بن بشیر نه ذکر کړي، هغه له رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې بې شکه هغه فرمایلي دي: «إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ، وَأَنْزَلَ مِنْهُ آيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سُورَةَ الْبَقَرَةِ، وَلَا تُقْرَآنِ فِي دَارٍ فَيَقْرَبُهَا الشَّيْطَانُ ثَلَاثَ لَيَالٍ»[2].

---

(۱) بخاري په فضائل القران کې روایت کړی:(۵۰۱۹)،او مسلم (۸۰۸).

(۲) حاکم په مستدرک کې روایت کړی:(۱/۵۶۲) او وایې: حدیث صحیح دی.

iLovePDF

ژباړه: الله جل جلاله د ځمکو او اسمانونو له پدایښت څخه زرونه کاله مخکی یو کتاب ولیکه، او له هغه څخه یې دوه ایتونه نازل کړل چې سورت بقره پرې ختمه شوې ده، دا په یو کور کې نه لوستل مگر دا چې شیطان کور ته دري ورځې نه ورنږدي کېږي.

**فائده:** له علی رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي:( ما دا سمه نه گڼله چې یو عاقل کس دې مخکې له دې چې د سورت بقرې اخرې دري ایتونه ولولي ویده شي[1].

iLovePDF

(١) الکلم الطیب د شیخ الإسلام ابن تیمیة-رحمه الله-:(ص١٩).

## پنځم: سورت اخلاص او معوذتين لوستل:

**سورت اخلاص:((قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ (١) اللَّهُ الصَّمَدُ (٢) لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ (٣) وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ)).**

ژباړه: ورته ووايه: اى پيغمبره: هغه الله دى، يوازې يو دى، الله هېچا ته اړ نه دى او ټول هغه ته اړ دي؛ نه هغه څوك زېږولى دى او نه هغه زېږول شوى دى؛ او هېڅوك د هغه سيال نشته.

**معوذتين:**

**د فلق سورت: (( قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ (١) مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (٢) وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ (٣) وَمِنْ شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ (٤) وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ)).**

ژباړه: ورته ووايه: اى پيغمبره: زه د سبا (د سهار وختي) په رب پناه غواړم؛ د هر هغه څه له شر څخه چي هغه پيدا کړي دي؛ او د شپې د تړږمې له شر څخه، چي کله هغه خوره شي. او په غوټو کي د پوکوونکيو (نارينه يا ښځو) له شر څخه؛ او د کينه ناك له شر څخه چي کله هغه کينه وکړي.

**د ناس سورت:((قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (١) مَلِكِ النَّاسِ (٢) إِلَهِ النَّاسِ (٣) مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ (٤) الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ (٥) مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ )).**

ژباړه: : ورته ووايه: اى پيغمبره : زه د خلکو رب ته پناه ور وړم؛ د خلکو باچا ته؛ د خلکو حقيقي معبود ته؛ د هغه وسوسه اچوونکي له شر څخه (پناه ور وړم) چي په وارو وارو ځي راځي؛ هغه چي د خلکو په زړونو

کي وسوسې اچوي، که هغه له پیریانو څخه وي، یا که له انسانانو څخه.

**د ویلو طریقه:** دري ځل سحر او دري ځل ماښام ویل، له ویده کیدو څخه مخکې[١]،او د هر فرضي له مانځه څخه وروسته یو ځل لوستل[٢].

## تجربه شوی ګټوری پایلې:

### (١) له هر څه بسنه(کفایت):

له خبیب بن عبد الله رضی الله عنه روایت دی هغه وویل: خَرَجْنَا فِي لَيْلَةٍ مَطِيرَةٍ وَظُلْمَةٍ شَدِيدَةٍ نَطْلُبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي لَنَا، قَالَ: فَأَدْرَكْتُهُ، فَقَالَ: « قُلْ » فَلَمْ أَقُلْ شَيْئًا، ثُمَّ قَالَ: «قُلْ»، فَلَمْ أَقُلْ شَيْئًا، قَالَ: «قُلْ»، فَقُلْتُ، مَا أَقُولُ؟ قَالَ:« قُلْ: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، وَالمُعَوِّذَتَيْنِ حِينَ تُمْسِي وَتُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ تَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ »[٣].

ژباړه: مونږ په بارانې او سخته تیاره شپه کې ووتلو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم لټون مو کوو چې مونږ ته لمونځ راکړي، هغه وویل: رسول الله صلی الله علیه وسلم مې پیدا کړ، هغه وفرمایل: ووایه، ما څه ونه ویل، بیا

(١) رسول صلي الله عليه وسلم :«چې به کله هره شپه خپلی بسترې ته لاړ نو خپل ورغوي به یې رایوځای کړل بیا به یې په کې لاړی توکړې او دا به یې وویل: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ، بیا به یې د خپل توان په اندازه خپل ورغوي په خپل ټول بدن راښکل» مسلم:(١٧٢٣/٤).

(٢) رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلې دی:«د هر فرضي لمانځه څخه وروسته قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ، قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ،ووایئ» صحیح الترمذی:(٨/٢).

(٣) صحیح الترمذي:(١٨٢/٣).

يې راته وويل: ووايه: ما څه ونه ويل بيا يې راته وويل: ووايه، ما وويل څه ووايم؟ هغه وفرمايل: «سحر او ماښام قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، او معوذتين دري دري ځل ووايه ستا لپاره به له هر څه بسنه وكړي».

## (۲) د سوال او پناه غوښتلو لپاره تر ټولوغوره سورتونه:

د عقبه رضي الله عنه روايت دی، چې بې شکه رسول صلى الله عليه وسلم ماته وفرمايل: «يَا عُقْبَةُ، أُعَلِّمُكَ خَيْرَ سُورَتَيْنِ قُرِئَتَا: قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ، وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ، يَا عُقْبَةُ، اقْرَأْهُمَا كُلَّمَا نِمْتَ وَقُمْتَ، مَا سَأَلَ سَائِلٌ وَلَا اسْتَعَاذَ مُسْتَعِيذٌ بِمِثْلِهَا »[1].

ژباړه: ای عقبه زه درته د لوستلو دوه غوره سورتونه درښايم: (قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ )، او(قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ)،ای عقبه هر کله چې ويده کېږي او يا له خوبه پاڅېږي دا ولوله، هېڅ سوال کونکي سوال نه دی کړی او پناه غوښتونکي پناه نه ده غوښتي د دې په څېر په بل غوره څه باندې.

## (۳) د پيريانو او انسان له نظر څخه خوندي کيدل:

د ابي سعيد الخدري رضى الله عنه روايت دی فرمايي: « أَنَّ النبيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَعَوَّذُ مِنَ الجَانِّ وَعَيْنِ الإِنْسَانِ حَتَّى نَزَلَتَا المُعَوِّذَتَانِ فَلَمَّا نَزَلَتْ أَخَذَ بِهِمَا وَتَرَكَ مَا سِوَاهُمَا»[2].

ژباړه: بې شکه رسول الله صلى الله عليه وسلم به له پيريانو او د انسان

---

(۱) جامع الأصول:(۸/۴۹۱-۴۹۲).

(۲) صحيح الترمذي:(۲/۲۰۶).

له نظره پناه غوښتله تر دې چې معوذتين نازل شول، کله چې معوذتين نازل شول نو په دې يې پناه غوښتل پيل کړل او له دې پرته نور يې پرېښودل.

iLovePDF

**شپږم: دا کلمات زيات لوستل:«لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ».**

ژباړه: نشته له بديو اړوونکی او په نکيو مرسته کوونکی مگر يوازې يو الله جل جلاله دی.

**د ويلو طريقه:** له تاکلې شمېر پرته زيات لوستل.

**تجربه شوې گټورې پايلې:**

**(۱) د جنت له خزانو څخه ستره خزانه ده، اغيز يې ډېر ناشنا دی:**

د ابي موسى الاشعري رضي الله عنه څخه روايت دی، وايي:ماته رسول صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «أَلاَ أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ». فَقُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ! قال: «لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ»[۱].

ژباړه: ايا زه درته د جنت له خزانو څخه خزانه نه درښايم، ما وويل: ولې نه ای د الله رسوله، نو هغه وفرمايل: «چې نشته له بديو اړوونکی او په نکيو مرسته کوونکی مگر يوازې يو الله جل جلاله دی».

ابن القيم رحمه الله وايي: دا کلمه د سختو کارونو په ترسره کولو، د مشقت په گاللو، پاچيانو ته په ورننوتلو او سختو حالاتو سره دمخامخ کېدو او له مشکلاتو څخه په خلاصی کې ناشنا اغيز لري، همدا شان د بېوزلی څخه په خلاصی کې هم تاثير لري[۲].

---

(۱) بخاري روايت کړی:(۱۹۵/۱۱)،او مسلم:(۲۷۰۴).

(۲) الوابل الصيب د ابن القيم:(ص۹۸).

حبیب بن سلمه رحمه الله به دښمن سره د مخامخ کېدو او هغوی د کلاونو د محاصره کېدو پر وخت دا کلمات:( لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ) ویل مستحب ګڼل، یوه ورځ یې د رومیانو کلا محاصره کړه نو شکست یې وخوړ، بیا مسلمانانو دغه کلمات وویل او د الله اکبر نعره یې کړه نو کلا ماته شوه[۱].

## (۲) د ټولو ناروغیو درملنه چې اسانه یې سوچ او پریشاني ده:

د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي بې شکه چې هغه فرمایي:« مَنْ قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، دَوَاءٌ مِنْ تِسْعَةٍ وَتِسْعِينَ دَاءً أَيْسَرُهَا الْهَمُّ»[۲].

ژباړه:څوک چې ووایي: نشته له بدیو اړوونکی او په نکیو مرسته کوونکی مګر یوازې الله جل جلاله دی ، نو دا به یې د نه نوي (99) ناروغیو لپاره درملنه شي چې تر ټولو اسانه یې سوچ او پریشاني ده.

## (۳) د ټولو ستونزو او سختیو څخه خلاصی چې کوچنی (ټیټ) یې فقر دی:

مکحول- رحمه الله- وایي: چا چې وویل: چې نشته له بدیو اړوونکی او په نکیو مرسته کوونکی مګر یوازې یو الله جل جلاله دی، او له الله څخه نجات او خلاصی نشته مګر یوازې هغه ته په ورستنیدو کې دی، د سختیو اویا

(۱)الوابل الصیب د ابن القیم:(ص۹۸).

(۲) حاکم په مستدرک کې ذکر کړي دي :(۵۴۲/۱)،او وایي سند یې صحیح دی.

برخې به ترې لېرې شې چې کوچنی يې بېوزلې ده[۱].

## اوم: دا کلمات لوستل:

**«بِسـمِ اللهِ الذي لا يَضُـرُّ مَعَ اسمِـهِ شَيءٌ في الأرْضِ وَلا في السّمـاءِ وَهـوَ السّمـيعُ العَلـيم ».**

ژباړه: پيل کوم په نوم د الله جل جلاله، هغه ذات چې دهغه په نوم يادولو سره نه په ځمکه او نه په اسمان کې هېڅ شی ضرر نه شي رسولی، هغه اوريدونکی او ښه پوهه دی.

**دويلو طريقه:** دري ځل سحر او دري ځل ماښام ويل .

**تجربه شوې ګټوره پايله:**

**(۱) له هر زيانه خونديتوب اود ناڅاپي مصيبت راتلو څخه مخنيوی:**

د عثمان بن عفان رضی الله عنهما نه روايت دي، رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: « مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُولُ فِي صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ، وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ: بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ »[۲]، وفي رواية أبي داود: «لَمْ تُصِبْهُ فَجْأَةُ بَلَاءٍ »[۳].

---

(۱) صحيح الترمذي:(۱۸۶/۳)،امام الباني يې په اړه ويلي: مقطوع دی.

(۲) صحيح الترمذي:(۳۳۸۵).

(۳) صحيح أبو داود(۵۰۸۸)،(۵۰۸۹).

ژباړه: داسې بنده نشته چې د هرې ورځې په سحر او هرې شپې په ماښام کې دري ځل ووایي: پیل کوم په نوم د الله جل جلاله، هغه ذات چې دهغه په نوم یادولو سره نه په ځمکه او نه په اسمان کې هېڅ شی ضرر نه شي رسولی، هغه اوریدونکی او ښه پوهه دی، ده ته به هېڅ شی زیان ونه رسوي، د ابو داود په روایت کې راځي: چې ده ته به ناڅاپې مصیبت ونه رسي.
یعنی سبب د راتلو پرته به ورته په ناڅاپې توګه مصیبت رانشي.

## د تجربې تاثیر:

کله چې ابان بن عثمان رضي الله عنهما ته فالج ورسید، نو هغه کس ورته کتل پیل کړل چې له ده څخه یې دغه حدیث اوریدلی و، ابان بن عثمان ورته وویل:"څه لامل دی چې ماته ګوري؟ قسم دی په نوم د الله جل جلاله چې نه ما په عثمان رضي الله عنه دروغ ویلي او نه عثمان رضي الله عنه په رسول صلی الله علیه وسلم دروغ ویلي بلکې په هغه ورځ چې ماته په کې مرض راورسید زه غوسه وم او له ما هېر شو چې دا ووایم"[١].

## اړینه فائده:

دا په دې دلیل دی چې غوسه او حتی هغه انفعالات چې په هغې کې غم، ویره، خندا او ژړا زیاته وي، یا شهوت او غفلت ته مخه کول د دغې وقایي (ژغورنې) د فساد او منع کېدو لامل ګرځي، یا خو یې شیطان د دغه انفعالاتو پر مهال ویل هېروي، په ځانګړې توګه د غوسې پر وخت ځکه غوسه

(١) صحیح أبو داود:(ص٩٨٥)، د حدیث شمیره:(٤٢٤٤).

دشيطان له لورې وي، لکه څرنګه چې ابان ته پيښې شول او يا د دغې انفعالاتو لامله وقايه کمزورې کيږي.

تعجب مه کوه چې کله هغه انسان ته مصيبت ورسي چې په ځان اذکار وايي، ځکه ده به د ځان په ساتنه کې خامخا هغه خاليګاه پريښې وي چې له لارې يې شيطان پر ده داخل شوي وي.

iLovePDF

## اتم: دا کلمات لوستل:

**«أعـوذُ بِكَلِمـاتِ اللّهِ التّـامّـاتِ مِنْ شَـرِّ ما خَلَـق».**

ژباړه: پناه نیسم د الله جل جلاله په بشپړو کلماتو سره، د شر له هغه څه نه چې هغه پیدا کړي دي.

**د ویلو طریقه:** سحر او ماښام دري ځل ویل، یو ځل د هغه چا لپاره ویل چې کوم ځای ته لاړ شي:

**تجربه شوې ګټوره پایله:**

**(١) لړم د زهرو ضد، او الله جل جلاله د هغه مخلوقاتو له شره د کورونو او ودانیو خوندي کیدل چې هلته اوسیږي:**

ابو هریره رضی الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړي راغلي او ورته یې وویل: ای د الله رسوله بیګاه لړم د چیچلو لامله په تکلیف وم، رسول صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: « أَمَا لَوْ قُلْتَ حِينَ أَمْسَيْتَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ تَضُرَّكَ»[١].

ژباړه: که دماښام کېدو پر وخت دې ویلي وي : پناه نیسم د الله جل جلاله په بشپړو کلماتو سره، د شر له هغه څه نه چې هغه پیدا کړي دي، نو ضرر به یې نه وی درسولی.

(١) امام مسلم روایت کړي دي:(٢٧٠٩).

## د تجربې اغېز:

دحديث راوي سهيل وايي:" زمونږ کورنۍ دغه کلمات زده کړل او هر ماښام به يې ويل، له دوی څخه يوه جينۍ وچيچل شوه چې د درد احساس يې ونه کړ"(۱).

امام قرطبي رحمه الله ويلې دي:" دا صحيح خبر او ريښتنی وينا ده، چې مونږ ته يې ريښتنولي دليل او تجربې ثابته کړې"(۲).

امام مسلم په خپل کتاب کې روايت کړي دي، يقينا رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "مَنْ نَزَلَ مَنْزِلاً ثُمَّ قَالَ: أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، لَمْ يَضُرُّهُ شَيْءٌ حَتَّى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذَلِكَ"(۳).

ژباړه:څوک چې يو ځای ته ولاړ شي او بيا ووايي: پناه نيسم د الله جل جلاله په بشپړو کلماتو سره، د شر له هغه څه نه چې هغه پيدا کړي دي، نو هېڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي تر څو چې له دغه ځای سفر نه وي کړی.

(۱)صحيح الترمذي:(۳/۱۸۷).

(۲) الفتوحات الربانية د ابن علان:(۳/۹٤).

(۳) امام مسلم راويت کړي دي:(۲۷۰۸).

**نهم: دا کلمات لوستل:**

**«حَسْبِـيَ اللّهُ لا إلهَ إلاّ هُوَ عَلَـيهِ تَوَكَّـلتُ وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظـيم».**

ژباړه: کافي دی رب زما نشته مستحق د بندګۍ بل څوک مګر يوازې يو الله جل جلاله دی، پر هغه می توکل کړي، چې خاوند دی د عرش لوی.

**دويلو طريقه:** اوه ځل سحر او اوه ځل ماښام ويل.

**تجربه شوې ګټوره پايله:**

**(١) د دنيا او اخرت له سوچ او پريشانۍ څخه کفايت(بسنه):**

د ابو هريره رضي الله عنه روايت دي، وايي: نبي صلى الله عليه وسلم ويلي دي: «مَنْ قَالَ فِي كُلِّ يَوْمٍ حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي: حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ، عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ، وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، سَبْعَ مَرَّاتٍ، كَفَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ مَا أَهَمَّهُ مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ»[١].

ژباړه: څوک چې د سحر او ماښام پر مهال اوه ځل دا کلمات ووايي: پوره دی رب زما نشته مستحق د بندګۍ بل څوک مګر يوازې دا يو الله جل جلاله دی، پر هغه می توکل کړي، چې خاوند دی د عرش لوی، الله جل جلاله به يې د دنيا او اخرت د اړتياوو او سوچونو کافي شي.

(١) ابن السني په خپل کتاب عمل اليوم والليلة کي روايت کړي(ص٧٠)،ارناؤط ورته صحيح ويلي دي، وګوره: زاد المعاد:(٢/٣٧٦).

**لسم:دا كلمات لوستل:**

**«بِسْمِ اللهِ ، تَوَكَّلْـتُ عَلى اللهِ وَلا حَوْلَ وَلا قُـوَّةَ إلاّ بِالله».**

ژباړه: پيل كوم په نوم د الله تعالى، په الله تعالى مې توكل كړي دي، نشته دى اړوونكى د بدۍ او مرسته كوونكى په نيكۍ باندي مگر يوازې الله جل جلاله دي.

**د ويلو طريقه:** هر ځل كور نه د وتلو پر مهال يو ځل ويل.

**تجربه شوي گټور اغيز:**

**(١) د ژغورنې له دري گوني ځواك نه برخمن كېدل:**

د أنس رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول صلي الله عليه وسلم فرمايلې دي: « مَنْ قَالَ - يَعْنِي - إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ-: بِسْمِ اللَّهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، يُقَالُ لَهُ: كُفِيتَ، وَوُقِيتَ، وَتَنَحَّى عَنْهُ الشَّيْطَانُ »[١].

وزاد أبو داود في روايته: « فيقول شيطانٌ آخرُ: كيفَ لك برجلٍ قد هُدِيَ وكُفِيَ ووقيَ؟ »[٢].

ژباړه: څوک چې كور نه د وتلو پر مهال ووايي: پيل كوم په نوم د الله تعالى، په الله تعالى مې توكل كړي دي، نشته دى اړوونكى د بدۍ او مرسته كوونكى په نيكۍ باندي مگر يوازې الله جل جلاله دي، نو هغه ته به وويل

(١) امام ترمذي روايت كړي دي:(٣٤٢٢)،او وايې: حديث حسن صحيح دي.

(٢) امام أبو داود په الأدب كې روايت كړي دي :(٥٠٩٥)، ابن حجر وايي : رجال يې صحيح دي، ابن حبان صحيح كړي دي :(٢٣٧٠).

شي:ستا د پاره(دا کلمات)کافي شول، ته وژغورل شوي، ته په سمه لار شوي، او له هغه څخه به شیطان جلا شي.

د ابوداود په روایت کې راځي:(یو شیطان به بل شیطان ته)وایي: ته به څرنګه په هغه چا برلاسه شي چې هغه ته هدایت شوی، ژغورل شوی، او دهغه لپاره ده هر څه نه بسنه ده.

## یوولسم : دا کلمات ویل:

**«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».**

ژباړه:نشته دی مستحق د بندګۍ مګر یوازې یو الله جل جلاله دی، هیڅ شریک نه لري، هغه لره پاچاهی ثنا او ستاینه ده، او هغه په هر څه برلاسي دی.

**دویلوطریقه:** سحر او ماښام لس ځله ویل، په ورځ کې سل ځل یا له دې څخه زیات ویل، بازار ته د ننوتلو پر مهال یو ځل ویل.

### تجربه شوې ګټورې پایلې:

### (۱) ستره ساتنه او لوی اجر:

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دي، وایي: رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: مَنْ قَالَ: «لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، مَنْ قَالَهَا عَشْرَ مَرَّاتٍ حِينَ يُصْبِحُ، كَتَبَ الله لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَمَحَا عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَتْ لَهُ عَدْلَ رَقَبَةٍ، وَحُفِظَ بِهَا يَوْمَئِذٍ حَتَّى

يُمْسِيَ، وَمَنْ قَالَهَا مِثْلَ ذَلِكَ حِينَ يُمْسِي، كَانَ لَهُ مِثْلُ ذَلِكَ»[۱].

ژباړه: څوک چې د سحر له خوا لس ځل دا کلمات ووايي: نشته دی مستحق د بندګۍ مګر يوازې يو الله جل جلاله دی، هېڅ شريک نه لري، هغه لره پاچاهی ثنا او ستاينه ده، او هغه په هر څه برلاسي دی، الله جل جلاله به دهغه لپاره سل نيکۍ وليکي، سل ګناهونه به يې ورژوي، دا به ورته په ثواب کې غلام د خلاصولو برابر وي، او په دې سره به دغه ورځ تر ماښامه وژوغورل شي، او که څوک د همدې په څېر ماښام(دغه کلمات) ووايي: دهغه لپاره به هم دغومره ثواب وي.

په بل روايت کې راځي: « مَنْ قَالَهَا فِي يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ، كَانَتْ لَهُ عَدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ، وَكُتِبَتْ لَهُ مِائَةُ حَسَنَةٍ، وَمُحِيَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَيِّئَةٍ، وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ يَوْمَهُ ذَلِكَ حَتَّى يُمْسِيَ، وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ، إِلَّا رَجُلٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ»[۲].

ژباړه: څوک چې دغه کلمات په ورځ کې سل ځله ووايي: دهغه لپاره به په ثواب کې د لسو غلامونو د ازادولو برابر وي، سل نيکۍ به يې وليکل شي، سل ګناهونه به ورته وبښل شي، او دابه ورته دغه ورځ تر ماښامه د شيطان نه ژغورنه وي، او هېڅوک به د ده په څېر په غوره عمل راتګ ونه کړي مګر هغه څوک چې له ده زيات عمل يې کړي وي.

---

(۱) إمام احمد له أبي عياش روايت کړی:(۴/۶۰)،سند يې صحيح دی، او امام أبو داود هم روايت کړی:(۵۰۷۷).

(۲) إمام بخاري روايت کړی:(۱۱/۱۶۸-۱۶۹)،او مسلم هم روايت کړی:(۲۶۹۱).

**(٢) بازار ته دننوتلو پر وخت دا کلمات ویل د الله جل جلاله سره ستر تجارت دی چې گټه یې په میلیونونو ده:**

د عمر بن الخطاب رضي الله عنه روایت دی، یقینا رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «مَنْ دَخَلَ السُّوقَ، فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، كَتَبَ اللَّهُ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ، وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ، وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ»،وفي رواية: « وَبَنَى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ»[1].

ژباړ: څوک چې بازار ته داخل شو او ويې ويل: نشته دی مستحق د بندگۍ مگر یوازې یو الله جل جلاله دی، هیڅ شریک نه لري، هغه لره پاچاهی ثنا او ستاینه ده، هغه ژوندي کول او مړه کول کوي، هغه به ابدی ژوندی وي په هغه هېڅکله مرگ نه راځي، دهغه په لاس کې ټول خیر دي او هغه په هر څه برلاسه دي، الله جل جلاله به دهغه لپاره زر نیکۍ ولیکي، زر گناهونه به یې ورژوي، او زر مرتبې به ورته لوړې کړي، او په بل روایت کې راځي: « چې په جنت کې به ورله کور جوړ کړي».

د حدیث راوي وایي: زه خراسان ولایت کې د قتیبه بن مسلم خواته

---

(١) الترمذي:(٣٤٢٤)، حاکم:(١/٥٣٨-٥٣٩)، إمام الباني په الجامع الصغیر کې صحیح گرځولی:(٥/٢٨٨).

ورغلم، ورته ومې ویل ما تاته ډالۍ راوړي چې ترڅو کله بازار ته راشي دغه کلمات ووايي او بېرته ستون شي.

گرانه وروره: له دې تعجب مه کوه چې په دې اسانه او لږ ذکر دومهر ستر ثواب ترلاسه کېږي، ځکه الله جل جلاله تر ټولو سخي ذات دي، مهربانې يې زياته ده، او دا د الله جل جلاله له لورې خبرتيا ده چې له هغه سره په بازار کې تجارت کول ډېر غوره او لوړ دي نسبت نورو خلکوته، تر څو انسان دنيوي تجارت کې په مشغوليدو خپل پيداکوونکی هېر نه کړي، له دې امله شيطان پخپل ټول ځواک سره هڅه کوي چې په بازار کې خپل بيرغ ټينگ کړي، چې له امله يې بې ځايه خبرې، چل، دوکه، شخړې، شور ماشور او خيانت مينځ ته راځي، له أبوعثمان څخه روايت چې سلمان فارسي رضي الله عنه ويلي دي: (لَا تَكُونَنَّ إِنْ اسْتَطَعْتَ أَوَّلَ مَنْ يَدْخُلُ السُّوقَ ، وَلَا آخِرَ مَنْ يَخْرُجُ مِنْهَا ، فَإِنَّهَا مَعْرَكَةُ الشَّيْطَانِ ، وَبِهَا يَنْصِبُ رَايَتَهُ)[1].

ژباړه: که توان دې لرلو نو هڅه وکړه چې بازار ته لومړي ننوتوونکی او له هغه څخه وروستي وتونکی و نه گرځي، ځکه بازار شيطان د جگړې ځای دي او هلته خپل بيرغ نصبوي.

قيس بن أبی غرزة وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم پر مونږ پداسی حال کې راووتلو چی مونږ مينځه گړيتوب کولو (اوسنی کميشن کاري)، هغه فرمايل: « يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ، إِنَّ الشَّيْطَانَ، وَالإِثْمَ يَحْضُرَانِ البَيْعَ، فَشُوبُوا بَيْعَكُمْ

(۱) إمام مسلم ذکر کړي دي:(۲۴۵۱)، الفتح:(۵/۹)، او طبراني:(۶/۳۰۴).

بِالصَّدَقَةِ»[١].

ژباړه: اى تجارانو: يقينا شيطان او گناه ستاسې خرڅولو ته حاضرېږي، تاسې خپل خرڅول د صدقې د لارې پاک کړئ.

iLovePDF

(١) إمام ترمذي ذکر کړي دي:(١٢٠٨)،او وايي: حديث صحيح دي، نسائي:(٣٧٩٧)، او طبراني:(١٨/٣٥٧).

**دولسم: دا کلمات ویل:**

**«أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ، وَبِسُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ».**

ژباړه: پناه نسم په الله جل جلاله پورې چې لوی دی، د هغه په عزتمند ذات ، او دهغه په ازلي پاچاهۍ پورې، د شیطان رټلی شوي نه.

**د ویلو طریقه:** جومات ته د ننوتلو پر وخت یو ځل ویل:

**تجربه شوي گټور اغیز:**

(۱) ټوله ورځ له شیطان څخه حفاظت او ساتنه:

د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روایت دی، وایي، کله چې به رسول صلی الله علیه وسلم جومات ته ننوتلو نو ویل به یې: «أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ، وَسُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، فَإِذَا قَالَ ذَلِكَ قَالَ الشَّيْطَانُ: حُفِظَ مِنِّي سَائِرَ الْيَوْمِ »[۱].

ژباړه: : پناه نسم په الله جل جلاله پورې چې لوی دی، د هغه په عزتمند ذات ، او دهغه په ازلي پاچاهۍ پورې، د شیطان رټلی شوي نه ، کله چې به یې دغه کلمات وویل: نو شیطان به وویل: ټوله ورځ له ما څخه په حفاظت کې شو.

(۱) إمام أبوداود روايت کړي دي:(۴۶۶)، الأرناؤط وايي: سند يې صحيح دي، زاد المعاد:(۲/۳۷۰)،ابن حجر د ابن علان په فتوحات کتاب کې حسن گرځولي دي:(۲/۴۷).

**دیارلسم: له الله جل جلاله څخه زیاته ښښنه غوښتل:**

**چې تر ټولو غوره یې (سید الإستغفار) دي: « اللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبيِّ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عليَ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ ».**

ژباړه: غوره استغفار دا دې چې ته ووایي: ای الله ته زما پالونکی یې، بی له تا بل څوک د عبادت وړ نشته، زه تا پیدا کړی یم او ستا بنده یم، زه د خپل توان په اندازه ستا په عهد او وعده ولاړیم، پناه غواړم په تا پوری د شر له هغه څه نه چې ما کړي دي، ستا په هغه نعمتونه اقرار کوم چې په ما دې کړي دي او په خپله گناه هم اقرار کوم، نو ماته ښښنه وکړه، یقینا بغیر له تا بل څوک گناهونه نه شي ښښلی.

**او همدا شان دا کلمات ویل:**

**« أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ ».**

ژباړه: ښښنه غواړم له الله جل جلاله څخه، هغه ذات چې له هغه پرته بل څوک دعبادت مستحق نشته ، هغه ابدي ژوندی او د کائناتو تنظیموونکی دی، او د هغه لور ته ورستنیږم.

**د ویلو طریقه:** له ټاکلي شمیرې پرته زیات لوستل.

تجربه شوې ګټورې پايلې:

(١) د شيطان له مسلط كيدو څخه خوندي كېدل ځكه په غالب ډول شيطان له ګناهونو سره په انسان مسلط كېږي:

ابن مسعود رضى الله عنه وايي: رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « مَنْ قَالَ أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ غُفِرَ لَهُ ، وَإِنْ كَانَ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ »(١).

ژباړه: څوک چې ووايي:، ښښنه غواړم له الله جل جلاله څخه، هغه ذات چې له هغه پرته بل څوک دعبادت مستحق نشته ، هغه ابدي ژوندی او د كائناتو تنظيموونكی دی، او د هغه لور ته ورستنيږم، ګناهونه به ورته وبښل شي اگر كه د جهاد له ميدانه تښتيدلی وي.

همدا شان رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «سَيِّدُ الِاسْتِغْفَارِ أَنْ يَقُولَ: اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ ، قَالَ: مَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوقِنًا بِهَا، فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوقِنٌ بِهَا، فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ»(٢).

---

(١) امام ترمذي ذكر كړی:(٥/٥٦٩)، أبوداود :(٢/٨٥)، امام الباني صحيح ګرځولی، صحيح الترمذي وګوره:(٣/١٨٢).

(٢)امام بخاري هم روايت كړی:(٧/١٥٠).

ژباړه: غوره استغفار دا دی چې ووایې: ای الله ته زما پالونکی یې، بی له تا بل څوک د عبادت وړ نشته، زه تا پیدا کړی یم او ستا بنده یم، زه د خپل توان په اندازه ستا په عهد او وعده ولاړیم، پناه غواړم په تا پوری د شر له هغه څه نه چې ما کړي دي، ستا په هغه نعمتونه اقرار کوم چې په ما دی کړي دي او په خپله گناه هم اقرار کوم، نو ماته ببښنه وکړه، بغیر له تا بل څوک گناهونه نه شي ببښلی، بیا وایي: څوک چې دا دعا د ورځې (سحر) له خوا ووایي پداسي حال کې چې یقین ورباندې لري او بیا په دغه ورخ مړ شي مخکې له دینه چې ماښام کړي نو دا جنتي دی، او یا یې د شپې له خوا ووایي پداسې حال کې چې یقین ورباندې لري او بیا د شپې مړ شي مخکې له دینه چې سحر کړي نو دغه انسان جنتي دی.

## (۲) له پریشانۍ نجات او له هغه ځای روزۍ ترلاسه کول چې گمان یې نه کیږي:

الله جل جلاله د استغفار او توبې د اغیز په اړه وایي:(( فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا (١٠)يُرْسِلِ السَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا(١١)وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوٰلٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنّٰتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهٰرًا)).د نوح سورت:(۱۰-۱۱-۱۲).

ژباړه: ما وویل: له خپل رب څخه ببښنه وغواړئ، ببشکه چي هغه خورا ډېر ببښونکي دی؛ هغه به پر تاسې له اسمانه ښه اورښتونه وکړي؛ تاسې ته به مالونه او اولادونه درپه برخه کړي، ستاسې لپاره به باغونه پیدا کړي او ستاسې لپاره به ویالې وبهوي.

ابن مسعود رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« مَنْ لَزِمَ الاِسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللَّهُ لَهُ مِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا، وَمِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا، وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لاَ يَحْتَسِبُ »[۱].

ژباړه: څوک چې د استغفار(بښنې غوښتلو) پابندې وکړي، الله جل جلاله به يې له هرې پريشانۍ راوباسي، او له هرې تنگستيا به يې خلاص کړي، او له هغه ځای به ورته رزق ورکړي چې دا به يې گمان هم نه کوي.

iLovePDF

(۱) أبوداود په كتاب الصلاة باب الاستغفار کې ذکر کړي دي :(۸۵/۲)، امام الباني ضعيف کړي دي، خو حديث شواهد لري،

## څوارلسم: پر رسول صلی الله علیه وسلم زیات درود ویل:

**د ویلو طریقه:** لس ځل سحر او لس ځل ماښام ویل، د زیاتو ویلو لپاره یې ټاکلې شمېره نشته.

### تجربه شوې ګټورې پایلې:

**(١) له پریشانۍ نجات او د ګناهونو ښښل، چې دا دواړه په ځان کې ددنیا او اخرت ټولې ښېګڼې رانغاړي:**

د طفيل بن أبي بن كعب نه روایت دی هغه له خپل پلارڅخه روایت کوي چې ویلي یې دي: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلاةَ عَلَيْكَ فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلاتِي ؟ قَالَ: «مَا شِئْتَ» قُلْتُ: الرُّبُعُ؟ قَالَ: «مَا شِئْتَ، وَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ» قُلْتُ: فالنِّصْفُ؟ قَالَ: «مَا شِئْتَ وَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ» قُلْتُ: الثُّلُثَيْنِ؟ قَالَ: «مَا شِئْتَ وَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ » قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَجْعَلُهَا كُلَّهَا لَكَ؟ قَالَ: «إِذًا تُكْفَى هَمَّكَ، وَيُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ»[1].

ژباړه: ای د الله رسوله زه غواړم چې پر تا درود ویل زیات کړم نو د خپل درود (دعا) څومره برخه ستا لپاره ځانګړې کړم، هغه وویل:« څومره چې دې خوښه وي»، ما وویل څلورمه حصه، هغه وویل:« څومره چې دې خوښه وي خو که له دې څخه یې زیات کړې ستا لپاره به غوره وي»، ما وویل نیمه برخه ، هغه وویل:« څومره چې دی خوښه وي خو که له دې څخه یې

(١) إمام ترمذي ذکر کړي دي :(١٥٢/٧)، أرناؤط د امام ابن قيم په کتاب جلاء الأفهام کې حسن ګرځولي دي:(ص٧٨).

زيات کړي ستا لپاره به غوره وي»، ما وويل له دريو څخه دوه حصې ، هغه وويل:« څومره چې دې خوښه وي خو که له دي څخه يې زيات کړي ستا لپاره به خير وي»، ما وويل: ای د الله تعالد پيغبره زه به خپل ټول درود ستا لپاره ځانگړي کړم، هغه وويل:« که داسې دې وکړل نو پريشانې به دی ختمه شې، او گناه به درته وبښل شي».

شيخ الإسلام ابن تيميه رحمه الله څخه د دې حديث د تفسير په اړه وپوښتل شو هغه په ځواب کې وويل: د ابي بن کعب رضي الله عنه لپاره ځانگړې دعا وه چې د ځان لپاره به يې پرې دعا غوښتله، نو له رسول الله يې وپوښتل چې ايا د خپل درود څلورمه برخه هغه ته خاص کړي، نبي صلی الله عليه وسلم ورته وويل:« که له دې څخه يې زيات کړي ستا لپاره به غوره وي»، هغه ورته وويل نيمه حصه ، هغه وفرمايل:« که له دې څخه يې زيات کړي ستا لپاره به غوره وي»،تردې چې هغه وويل: زه به خپل ټول درود( خپله ټوله دعا) ستا لپاره (ستا د درود ويلو لپاره) ځانگړي کړم، هغه ورته وفرمايل:« که داسې دې وکړل نو پريشاني به دې ختمه شي، او گناه به درته وبښل شي».

ځکه چا چې پر رسول صلی الله عليه وسلم يو ځل درود وويل، الله جل جلاله به پر هغه لس ځلی درود ووايې او پر چاچې الله رب العزت درود(رحمت) ووايې نو ده هغه ټوله پريشانی به ختمه او گناه به يې معاف

شی[١].

امام شوکاني رحمه الله وايي:( دا دوه خويونه دې چې ددنيا او اخرت ټولې ښيګنې يې په ځان کې رانغښتي دي، د چا له پريشانۍ چې الله کافي شو، نو د دنيا له ټولو سختيو او پيښو به په امن شی، ځکه د هرې پيښې په پريشانۍ کې اغيز وي اګر که لږ هم وي، او الله جل جلاله چې د چا ګناه وبښله نو د اخرت له سختيوڅخه خوندي شو، ځکه اخرت کې خلک د ګناهونو لامله هلا کيږي)[٢].

## (٢) د رسول صلى الله عليه وسلم شفاعت ترلاسه کول:

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:« مَنْ صَلَّى عَلَيَّ حِينَ يُصْبِحُ عَشْرًا، وَحِينَ يُمْسِي عَشْرًا، أَدْرَكَتْهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[٣].

ژباړه: څوک چې ما باندې د سحر له خوا لس ځلې او د ماښام له خوا لس ځلې درود ووايي، نو د قيامت په ورځ يې زما شفاعت ترلاسه کړه.

پر رسول صلى الله عليه وسلم تر ټولو غوره درود ويل ابراهيمي درود دي، چې کلمات يې دا دي: « اللَّهُمَّ صَلِّي عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ»[٤].

---

(١) وګوره جلاء الأفهام د ابن القيم رحمه الله، تحقيق: شعيب الأرناؤط:(ص٧٩).

(٢) تحفة الذاكرين د شوکاني رحمه الله:(ص٣٠).

(٣) وګوره صحيح الترغيب د حديث شمېره:(٦٥٩)،(٢٧٣)،امام الباني حسن ګرځولي دي.

(٤) إمام أحمد په مسند کې روايت کړي دي:(١٨١٠٤).

او كه دا  نه وي نو بيا تر ټولو وروستۍ حد يې د درود او سلام يوځاى كول دي لكه:( اللهم صلى وسلم على نبينا محمد).

iLovePDF

## پنځلسم: دا کلمات ویل:

**« أَسْتَوْدِعُكُمُ اللَّهَ الَّذِي لَا تُضِيعُ وَدَائِعُهُ».**

ژباړه: الله جل جلاله ته تاسی سپارم، هغه ذات ته چې هغه ته سپارل شوي شیان نه ضائع کیږي.

**دویلو طریقه:** یو ځل په هر هغه څه لوستل چې د ساتنې اراده یې لرئ.

**تجربه شوي ګټور اغیز:**

**(١) له غلا او تجاوز څخه د اولاود، شتمنۍ او نورو شیانو ساتل او خوندي کول:**

د ابن عمر رضی الله عنه نه رویت دي، یقینا رسول الله وفرمایل: «إِنَّ اللَّهَ إِذَا اسْتُوْدِعَ شَيْئًا حَفِظَهُ »[١].

ژباړه: کله چې له الله جل جلاله سره یو شي امانت کېښودل شي نو هغه یې ساتنه کوي.

أبو هریره رضی الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي، یقینا هغه فرمایلي دي:« مَنْ أَرَادَ أَنْ يُسَافِرَ فَلْيَقُلْ لِمَنْ يُخَلِّفُ: أَسْتَوْدِعُكُمُ اللَّهَ الَّذِي لَا تُضِيعُ وَدَائِعُهُ»[٢].

---

(١)إمام أحمد په مسند کې په صحیح سند روایت کړي دي:(٥٦٠٥).

(٢)إمام أحمد په مسند کې روایت کړي دي:(٤٠٣/٢)، سند یې حسن دي.

ژباړه: که څوک غواړي چې سفر وکړي نو پاتي کيدونکو ته دې ووايي: الله جل جلاله ته تاسې سپارم، هغه ذات ته چې هغه ته سپارل شوي شيان نه ضائع کيږي.

دا حفاظت او ساتنه عامه ده که په سفر کې وي او که له سفرپرته وی، دا له غلا او زياتي څخه خوندي کېدل دی ولو که سپارل شوي شي ډير لږ هم وي، په دې سره بنده خپل څښتن ته په هر وړوکي او لوی کار کې اړتيا په ډاګه کوي.

مثلا که ووايي: الله جل جلاله ته خپل ځان، دين، امانت، د اعمالو پای، مال، اولاد، کور او ټول هغه څه چې الله ماته راکړي سپارم، هغه ذات ته چې هغه امانت نه ضائع کوي، نو الله جل جلاله به ورته د دغې ټولو شيانو ساتنه وکړي، داسې څه به په کې ونه ويني چې دا يې بد ګڼي، او د ټولو پيريانو او انسانانو له شره به خوندي شي.

## شپاړسم: لاندې کلمات ویل:

**« الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا ».**

ژباړه:الله جل جلاله لره حمد او ثنا ده، هغه ذات چې ما ته يې دهغه مصيبت نه روغتيا راکړي ده چې ته يې پرې اخته کړي يې، او زه يې غوره کړی یم په ډېرو هغه مخلوقاتو باندې چې هغه پیدا کړی دي په غوروالي سره .

**د ويلو طريقه:** د هر رنګه مصيبت ځپلي کس د ليدوپه وخت کې يو ځل ويل.

**تجربه شوې ګټوره پايله:**

**(١) د مصيبت څخه د مال، اولادونو او نورو شيانو ساتل:**

ابن عمر رضی الله عنه د رسول صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي، بې شکه هغه وفرمايل:« مَنْ رَأَى مُبْتَلًى فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلاً، لَمْ يُصِبْهُ ذَلِكَ الْبَلَاءُ»[1].

ژباړه: څوک چې په مصيبت اخته کس ويني نو ودې وايي: الله جل جلاله لره حمد او ثنا ده، هغه ذات چې ما ته يې دهغه مصيبت نه روغتيا راکړی ده چې ته يې پرې مبتلا کړي يې، او زه يې غوره کړی یم په ډېرو هغه

(١)إمام أحمد په مسند کې په صحيح سند روايت کړی:(٥٦٠٥)، په دعا ويلو کې به غبږ نه لوړوی ترڅو هغه ګمان ونه کړی چې ته په هغه پوری ملنډی وهی.

مخلوقاتو باندې چې هغه پيدا كړي دي، نو دغه مصيبت به ور ونه رسېږي.

دا ژغورنه په هر مصيبت كې عامه ده، كله چې دې ناروغه كس وليد نو دا دعا ووايه چې الله جل جلاله دې د هغه له ناروغۍ وساتي، كه د چا اولاد دې بى لارى وليد نو سپكاوي او پيغور مه وركوه ،بلكې دا دعا ووايه چې اولاد دې ترې خلاصى وومي، كه چېرته دې ترافيكي پيښه وليده، په تجارت كې د چا له تاوانه خبر شوي نو همداسې وكړه، او همدا رنګه په هر مصيبت كې...

## اړينه فائده:

د مصيبت ځپلو د ليدلو پر وخت د دې ستړې دعا ويل ، سره له دې د هغوى د تيروتنې نه عبرت اخستل او له هغه څخه د ځان ساتنې كيفيت، او د مصيبت ځپلو سره مرسته او ورته نصيحت كول مشروع عمل دى، نه ملنډې، سپكاوى، پيغور او هغه كړنې كول چې ځينې كم عقل يې كوي.

لكه څرنګه چې دا دعا له مصيبت څخه ساتنه كوي، همدا رنګه په مصيبت ځپلو پورى ټوكې كول پر مصيبت د اخته كېدو لامل ګرځي، په حديث كې راځي: «لَا تُظْهِرِ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ فَيَرْحَمَهُ اللَّهُ وَيَبْتَلِيَكَ»[1].

ژباړه: د خپل ورور په مصيبت خوښي مه ښكاره كوه، په هغه به الله جل جلاله رحم وكړي او تا به پرې مبتلا كړي.

---

(١) إمام ترمذي، طبراني او همداسې نورو له معاذ –رضى ا لله عنه- څخه مرفوعا روايت كړي، امام ترمذي وايي: حديث حسن غريب دي، وګوره: د عبد الرحمان الأثرى كتاب تميز الطيب من الخبيث(ص١٧١)، وګوره اذكار د امام نووي رحمه الله:(٥٤٢).

شماته دیته وایي: چې یو مسلمان خپل ورور ته په هغه گناه پیغور ورکړې چې هغه ترې توبه ویستلي وی، او یا په خبرو، حرکاتو او یا په بل ډول په هغه پسې ملنډې او ریشخند ووهي، دا ډېره ناوړه کړنه ده ډېر کم ورته د خلکو پام کیږي، په اثر کې راځي: «مَنْ عَيَّرَ أَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتَّى يَعْمَلَهُ»(١).

ژباړه: څوک چې خپل ورور ته په گناه پیغور ورکړي نو تر هغې به مړ نشي چې تر څو دغه گناه ترسره نه کړي.

(١) امام ترمذي روایت کړي دي:(٢٥٠٥).

iLovePDF

# ژغورونـــــــــکي عمـــــــــــلونه

## لومړی: د سحر لمونځ په جمع کول

**طريقه:** دهرې ورځ لمونځ پخپل وخت کول.

**تجربه شوي ګټور اغيز:**

(١) د انسي او جني شيطانانو څخه د خونديتوب لمونځ:

امام مسلم د جندب بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت کوي هغه ويلي دي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللَّهِ فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللَّهُ فِي ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ، فَإِنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ ثُمَّ يَكُبَّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ»[١].

ژباړه: څوک چې د سحر لمونځ په جماعت سره وکړي نو هغه د الله جل جلاله په ذمواری کې شو، الله جل جلاله دې تاسې د خپلې ذمې په اړه په څه شي کې ونه غواړي ځکه الله جل جلاله چې د خپلې ذمې په اړه څوک په کوم شي کې وغواړي نو هغه رانيسي او بيا يې پړمخې دجهنم اور ته غورځوي.

(١) صحيح مسلم: (١٢٥/٢)، د ماخوستن او سحر لمونځونه په جماعت سره کولو د فضيلت باب.

د حديث معنى ده: څوک چې الله تعالى د رضايت په خاطر د سحر لمونځ په جمعه سره وکړي نو دا په دنيا او اخرت کې د الله تعالى په امان او ژمنه کې شو، الله جل جلاله دې تاسې د خپلې ژمنې په اړه په کوم شي کې طلب نه کړي معنى دا چې : الله جل جلاله د هغه څه نه منع کړي چې هغه د مطالبى او غوښتنې لامل گرځي چې هغه سحر لمونځ كوونكي ته زيان رسول دي، او د نېولو لپاره د غوښتنې معنى ده: چې الله جل جلاله به يې په خپل حق کې د کمي او ژمنې د ماتولو لامله د نېولو لپاره وغواړي چې د الله تعالى څخه هيڅ تښتيدونکى خلاصيداى نه شي.

هغه چاته وگورئ چې د سحر لمونځ پريږدي چې ورځ يې څومره ناكراره وي، خوسحر لمونځ کونکى بيا د دې برعكس وي، او دا ليدلي او محسوسه ده.

iLovePDF

## دوهم: په پټه او ښکاره صدقه کول

**طريقه:** په هر وخت کې صدقه کول.

**تجربه شوې ګټورې پايلې:**

**(١) د افتونو او مشکلاتو څخه د صدقه کوونکي د خوندي کېدو ستر سبب:**

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت دي، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «صَنَائِعُ الْمَعْرُوفِ تَقِي مَصَارِعَ السُّوءِ، وَالْآفَاتِ، وَالْهَلَكَاتِ»[1].

ژباړه: د ښيګڼو کول د افتونو ، بديو او هلاکت له ځای څخه انسان ساتي.

ابراهيم النخعي ويلي دي:" دوی ليدل چې صدقه د انسان څخه ظلم منع کوي"[2].

**(٢) صدقه کول د الله جل جلاله غوسه وژني،او له ناوړه مرګ څخه انسان ساتي:**

د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دي، وايي: رسول الله

---

(١) مستدرک د حاکم :(١٢٤/١)، امام الباني په صحيح الجامع کې صحيح ګرځولي دي:(٧٠٧/٢)، د حديث شمېره ده:(٣٧٩٥).

(٢) شعب الإيمان د بيهقي:( ٢٨٣/٣)،د حديث شمېره ده:( ٣٥٥٩).

iLovePDF

صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: « صَدَقَةُ السِّرِّ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ »[١].

ژباړه:په پټه صدقه ورکول د رب العزت غوسه وژني.

عمرو بن عوف رضى الله عنه وايي: بې شکه رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي د]:«إِنَّ صَدَقَةَ الْمُسْلِمِ تَزِيدُ فِي الْعُمُرِ، وتَمْنَعُ مِيتَةَ السَّوْءِ »[٢].

ژباړه: يقينا د مسلمان صدقه عمر زياتوى او د بد مرگ څخه يې منع کوي.

## (٣) صدقه کول د ژغورنې پرته د ناروغۍ درملنه ده کله چې پرې د تداوى نيت وکړاى شي:

د ابو امامه رضى الله عنه نه روايت دي، رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«دَاوُوا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ»[٣].

ژباړه: تاسې خپل ناروغان په صدقه تداوي کړئ.

ابن الحاج ويلي دي:(له صدقې څخه موخه دا ده چې ناروغه خپل ځان له جل جلاله څخه په هغه اندازه اخلي چې د هغه په وړاندې ده د نفس له ارزښت سره برابر وي، د صدقې لپاره خامخا قاطع اغيز وي، ځکه خبر

(١) معجم الصغير د طبراني:(٢/٢٠٥)، د حديث شمېره ده:(١٠٣٣)، امام الباني په صحيح الجامع کې صحيح گرځولي دي:(٢/٧٠٢)، د حديث شمېره ده:(٣٧٥٩).

(٢)إمام ترمذي روايت کړى او حسن يې گرځولى، د صدقى نور دنيوى او اخروى فضيلتونه نه ذکړ کو ځکه دلته زمونږ خبرى يواځى د صدقى د ژغورنى په اړه دى.

(٣) طبراني او بيهقي روايت کړى، او امام الباني په صحيح الجامع کې صحيح گرځولى دى:(١/٦٣٤)، د حديث شميره:(٣٣٥٨).

iLovePDF

ورکوونکي هم ریښتني دي او له چا چې خبر ورکړل شوی هغه هم سخی او احسان کونکی دی)[١].

## د تجربې پایله:

واقیعت او لیدنه دا ثابتوي: چې انسان سره د الله جل جلاله مرسته هغه د صدقې او او مال خرڅ کونې په اندازه وي.

او رزق د صدقې او ورکړې په اندازه انسان ته راځي، دلیل یې دعائشی رضی الله عنها کیسه ده :(یوې غریبې ترې پداسې حال کې سوال وکړ چې هغه روژه وه او په کور کې له یوې ډوډۍ پرته بل څه نه لرل خپلې وینځې ته یې وویل: هغې ته ډوډۍ ورکړه، وینځې ورته وویل:تاسره له دې پرته بل څه نشته چې ته پرې روژه ماته کړې، هغې ورته وویل ډوډۍ ورکړه، وینځه وایې: ما ډوډۍ ورکړه کله چې مو ماښام کړ کومې کورنۍ او یا کوم کس چې مونږ ته به یې ډالۍ رواړله مونږ ته ګډه او دهغې چاري ډالۍ راکړه ، نو زه یې راوغوښتلم او راته یې وویل : له دې یې وخوره دا ستا له ډوډۍ غوره دي)[٢].

یو نیک عمله سړي خپل ناچاره ګاونډي ته چې د ډیرو لوږو پلار و، ښه اوښه ورکړه، سړی د اوبو په پلټنه کې د ځمکې په سمڅو کې ورک شو،

(١) کتاب المدخل د ابن الحاج:(١٤١/٤-١٤٢).

(٢) په شعب الایمان د بیهقی کې د أبو هریرة –رضی الله عنه د حدیث تکړه ده:(١٩١/٧)، او امام الباني په صحیح الجامع کې صحیح ګرځولی دی، د حدیث شمیره:(١٩٥٢).

کورنۍ يې اوه ورځې انتظار وکړو خو راستون نشو، کورنۍ يې فکر وکړ چې مړ دی نو د هغه مال يې تقسيم کړ، بچيانو يې هغه اوښه رایاده کړه چې پلار يې ګاونډي ته وړيا ورکړه وه، ځامنو يې اوښه له ګاونډي بېرته راستنه کړه، ګاونډي يې له بچيانو وغوښتل چې هغه سمځه وروښايي او بيا يې د هغه لټون شروع کړ، ترڅو يې په داسې حال کې وموند چې مرګ ته نږدې و، ترې ويې پوښتل څرنګه دې له ډوډۍ او اوبو پرته ژوند تېر کړ، هغه وويل:هره ورځ ماته په لوښي کې يخې شيدې راتلې خو له دو ورځو راهيسې بندې شوې، نو ګاونډي يې خبر کړ چې د دو ورځو راهيسې دی ځامنو له ما اوښه ستنه کړې ده.

iLovePDF

## د ازمېښت حکمت، او د راتلو پر وخت يې روا کړنې

ازمېښتونه، مصيبتونه ستونزې او کړاوونه د الله جل جلاله له کوني او تقديري سنتو څخه دي الله جل جلاله فرمايي: ((وَلَنَبْلُوَنَّكُم بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الْأَمْوَالِ وَالْأَنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ)).

ژباړه: او موږ هرومرو په وېره، خطر، لوږه، د سر او مال په تاوان او د عائداتو په خساره کې په اخته کولو په تاسې ازمېښت کوو، او (ای پېغمبره ﷺ) صبر کوونکو ته زېری ورکړه.

د الله جل جلاله له لورې امتحان او مصيبت د مؤمن او کافر دواړو لپاره وي، د مؤمن لپاره به يا سزا وي تر څو د اخرت سزا يې راکمه شي، يا به د هغه گناهونه رژوي او مرتبې به يې لوړوي، او يا به هغه د صبر حوصلې او ايمان ازموينه وي، خو د کافر لپاره بيا يوازې هغه د کفر، نافرمانۍ او سرغړونې سزا ده.

خو دا تول د الله جل جلاله تقدير او پرېکړې ته ورگرځي، يقينا کله داسې ډلې ازمېښت او امتحانوي چې نور له هغوی ډېر بدتر وي، کله مؤمنان امتحانوي او کافرو ته مهلت ورکوي، مونږ دا پخپلو عقلونو نشو قياسولی، بلکې دا دالله جل جلاله هغه نهايت حکمت پورې اړه لري چې شايد له مونږ څخه پټ وي.

خو د مصیبت او امتحان اساسي لامل د انسانانو گناهونه نافرماني او کفر دی او دلیل پرې دالله جل جلاله او د رسول ﷺ رښتنې ویناوې دي الله عزوجل فرمایي:(( ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ)). .

ژباړه: په وچه او لمده کښې د خلکو (د لاسونو) په عملونو سره فساد ښکاره شوي دي؛ نو (الله جل جلاله) په دوی باندې د هغو عملونو (د سزا) خوند څکوي چې دوی کړي دي، ښایي چې دوی راوگرځي.

همدا رنگه نبي ﷺ فرمایلي دی:« مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي هُمْ أَكْثَرُ وَأَعَزُّ مِمَّنْ يَعْمَلُ بِهَا ، ثُمَّ لَا يُغَيِّرُونَهُ ، إِلَّا يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ»[١] .

ژباړه: داسې یو قوم نشته چې په هغوی کې گناهونه ترسره کېږي او دوی ډېر او پیاوړي وي له هغه چا نه چې گناه ترسره کوي، او دوی یې له گناه څخه نه منع کوي، مگر نږدې ده چې الله جل جلاله به ورته عام عذاب ورکړي.

(١) ابن ماجه روایت کړی او امام الباني صحیح کړي.

**د مؤمنانو او نیکانو ازمېښت او امتحانولو کې حکمتونه او ګټې دي چې ځینې په لاندی ډول دي:**

(١) ازمېښت او امتحان د ایمان نښه ده: له رسول ﷺ وپوښتل شو: په خلکو کې تر ټولو سخت ازمېښت او مصیبت پر چا راځي؟ هغه وفرمایل:«الْأَنْبِيَاءُ، ثُمَّ الصَّالِحُونَ، ثُمَّ الْأَمْثَلُ، فَالْأَمْثَلُ مِنَ النَّاسِ، يُبْتَلَى الرَّجُلُ عَلَى حَسَبِ دِينِهِ، فَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ صَلابَةٌ زِيدَ فِي بَلائِهِ، وَإِنْ كَانَ فِي دِينِهِ رِقَّةٌ خُفِّفَ عَنْهُ »[١].

ژباړه: پیغمبران، بیا نیکان بیا چې څوک له خلکو ښه غوره وي، یو سړی به د خپلی دینداری او نیکو عملونو برابر امتحانولی شي، که چېرې یې دین کلک او پیاوړي وي نو ازمېښت او مصیبت پرې هم سخت راځي، او که چیری یې په دین کې کمزوري او سستوالی وي نو ابتلاء او امتحان یې هم اسانه وي.

(٢) ازمېښت او تکلیف راتلل الله جل جلاله لورې خپل بنده سره د مینې او محبت نښه ده، رسول ﷺ فرمایي:«وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ »[٢]

ژباړه: الله جل جلاله چې کله کوم قوم خوښ کړي نو هغوی ازمېښت

---

[١] مسند د امام أحمد:(٢/٢٨٢)، د حدیث شمېره:(١٨٤١).

[٢] إمام أحمد او ترمذي روایت کړي.

او امتحان کړي.

(٣) ازمېښت او مصيبت دالله جل جلاله له لورې خپل بنده ته د سلامتيا او خيرغوښتنې د ارادې نښه ده: رسول ﷺ فرمايلي دي: «إِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِعَبْدِهِ الْخَيْرَ عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا ، وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ ب بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ حَتَّى يُوَافِيَ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»[١] .

ژباړه: کله چې الله جل جلاله خپل بنده ته د خير رسولو اراده وکړي، نو هغه ته په دنيا کې سزا ورکړي، او کله چې الله جل جلاله خپل بنده ته د شر اراده وکړي نو هغه نه هغه د ګناه لامله عذاب ايسار کړي تر څو د قيامت په ورځ ورته پوره سزا ورکړي.

(٤) ازمېښت او مصيبت ګناهونه رژوي که څه هم لږ وي، رسول ﷺ فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيبُهُ أَذًى، شَوْكَةٌ فَمَا فَوْقَهَا، إِلَّا كَفَّرَ اللهُ بِهَا سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا»[٢]

ژباړه: هېڅ يو مسلمان نشته چې هغه ته د اغزي او يا د هغې نه لوړ تکليف ورسي، مګر دا چې الله جل جلاله به ترې ګناهونه داسې ورژوي لکه څرنګه چې ونه خپلې پاڼې رژوي.

ازمېښت او امتحان به کله په خير سره وي لکه: د مال او شتمنۍ ډېريدل او کله په شر سره لکه: ناروغۍ او داسې نور... لکه څرنګه چې الله تعالی

[١] إمام ترمذي روايت کړي.

[٢] متفق عليه حديث دی.

فرمايي:(( وَنَبْلُوكُم بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً)).

ژباړه: مونږ په خير او شر سره په تاسې ټولو ازمېښت او امتحان کوو.

## کله چې مصيبت او تکليف د الله جل جلاله په تقدير سره واقع شي نو مسلمان لپاره لاندنې کړنې روا دي:

(۱) صبر کول: له قهر غوسې او شکايت څخه ځان ساتل او د مصيبت مشروعه دعا ويل:« إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيْهِ رٰجِعُونَ، اللَّهُمَّ أَجِرْنِي فِي مُصِيبَتِي وَأَخْلُفْ لِي خَيْرًا مِنْهَا»[۱] .

ژباړه: موږ د الله يوو او د هغه (الله جل جلاله) لورې ته ور گرځېدونکي يوو، يا الله ماته د دې مصيبت اجر راکړي او ماته له دې غوره بدله راکړي.

(۲) دالله جل جلاله په پرېکړه او قضاء رضايت: او دا ايمان لرل چې الله جل جلاله پرته له حکمت او خير خواهۍ څخه پرېکړه نه کوي.

تېر شوی دلايل دا ثابتوي.

(۳) شکر ويستل: چې دا تر ټولو لوړه مرتبه او دالله جل جلاله پرېکړې ته بشپړ تسليميدل دي، په سختۍ کې يوازې د الله جل جلاله حمد او ثنا ويل

---

[۱] أبو سلمة روايت کړي دي، دا دعا أم سلمه- رضی الله عنها- وويله الله جل جلاله ورته نبي الله صلی الله عليه وسلم د خاوند په توگه ورپه برخه کړ، وگوره صحيح الجامع د الباني-رحمه الله-:(۵۷۶۴).

پکار دي.

او په دې ځان پوهول چې څه تېر شو هغه د تقدير په خير او شر باندې ستا د ايمان درلودلو په پياوړتيا دلالت کوي، او هغه څه چې تاته رسي نو له تا نه اوړي او هغه څه چې له تا اوړي تا ته نه درسي.

(۴) همدا رنګه د مصيبت ليرې کول: اود هغی په ليرې کولو کې د مرسته کونکو وسايلو لټون، هڅه کول او ترې ګټه اخستل روا دی که چېرته مصيبت د ليرې کېدو وړ وي، چې ځينې وسائل يې په لاندې ډول دي:

(۱) الله جل جلاله ته توبه ويستل: الله جل جلاله ته ورستنيدنه مصيبت ليرې کوي لکه څرنګه چې يې ګناهونه راجذبوي.

دعا او الله جل جلاله ته عاجزی مصيبت ليرې کوي که چېرې يې په قبليدو يقين وشي او له تلوار څخه ډډه وشي.

(۲) ورځنۍ وظيفه، دعاګانې، سحرني او ماښاماني اذکار ويل: ځکه دا يا مصيبت او تکليف ودروي او يا يې کموي.

**د اذکارو اغيز د دو لاملونو ل امله کمېږی او زياتېږی:**

۱/ پياوړی ايمان چې دا حق او رښتني دي، او دالله جل جلاله په فضل ګټور دي.

۲/ په حاضر زړه توجه او غوږ نيول ، ځکه دا دعا ده او دعا له غافله او لا پروا زړه نه قبلېږي لکه څرنګه چې رسول ﷺ فرمايلي دي.

(۳) مصيبت د مخنيوي ستره وسيله: له ناروغۍ څخه د تدواي په موخه د قران کريم لوستل دي، د قران کريم ټول ايتونه د روغتيا لپاره دي.

په نیکو اعمالو باندې د خپل وخت مشغولولو په موخه ځینې هغه ویناوې او کارونه چې د نبي صلی الله علیه وسلم نه په کې لوی اجر او ثواب ثابت دي:

**لومړی: هغه اسانه او غوره ویناوې چې اجر او ثواب یې ځو چنده دي.**

**(۱) دا کلمات ویل:«سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ».**

رسول ﷺ فرمایلي دي: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ، ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ، حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ، سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ»

ژباړه: دوه کلمې او جملې دي، په ژبه ویلو کې سپکې او په تله کې درنې دي، الله جل جلاله ته ډیرې غوره دي، پاکي ده الله تعالی لره سره د ثنا او ستاینې د هغه، پاک دی الله تعالی چې لوی ذات دی.

**(۲) دا کلمات ویل: « سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ، وَرِضَى نَفْسِهِ، وَزِنَةَ عَرْشِهِ، وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ».**

رسول ﷺ فرمایلي دي: «لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ؛ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةِ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ».

ژباړه:یقینا ما له تا وروسته څلور کلمات درې ځل وویل، کچیرې ستا د ټولې ورځې له ذکر سره وتلل شي نو له هغې به درانده وي، پاکي ده الله جلا جلاله

لره او غوره ستاينه ده هغه لره په اندازه د مخلوقاتو د هغه، د نفس د رضا د هغه، په وزن د عرش د هغه او په رنګ د کلماتو د هغه .

(٣) دا دعا ويل:« الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ».

رسول ﷺ فرمايلي دي: «مَنْ أَكَلَ طَعَامًا فَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ».

ژباړه: چا چې ډوډۍ وخوړه او بيا يې وويل: پاکي ده هغه ذات لره چې ماته يې دا خواړه راکړه، او ماته رزق راکوي بغير زما د قوت او طاقت نه، نو ټول مخکنې ګناهونه به ورته وبښل شي.

همدا رنګه د اوبو څښلو او جامو اغوستلو پر وخت هم دا دعا ويل.

(٤) دا کلمات ويل:«سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ».

نبي ﷺ فرمايي: «مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ وَبِحَمْدِهِ، غُرِسَتْ لَه نَخْلَة فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه: څوک چې دا کلمات ووايي: پاکي ده الله تعالى لره چې لوى ذات دى ، حمد او ثنا ده هغه لره، په جنت کې به د هغه لپاره د خرما نيالګۍ کېنول شي.

(٥) دا کلمات ويل: «سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ».

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: « مَنْ قَالَ حِينَ يُصْبِحُ وَحِينَ يُمْسِي: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ ،وَلَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهِ إِلَّا أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ».

ژباړه: څوک چې سحر او ماښام سل ځله: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ ووايي، ټول گناهونه به يې ورژيبړې اگر که سمندر د زگ هومره ول نه وي، او قيامت په ورځ به څوک د ده نه په غوره عمل راتلل ونه کړي، مگر هغه څوک چې د ده په شان يا د ده نه زيات عمل(ذکر) يې کړي وي .

## دوېمه برخه: د ځينو ايتونو فضيلت:

### (١) ايت الکرسي د ويلو اجر :

رسول ﷺ فرمايلي دي: «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ، إِلَّا الْمَوْتُ».

ژباړه:څوک چې د هر فرضي لمانځه څخه وروسته ايت الکرسي ولولي له مرگ پرته بل څه به يې جنت ته له ننوتلو ايسار نه کړي.

### (٢) سورت کهف د اولنيو لسو ايتونو د يادولو فضيلت:

نبي ﷺ فرمايي: « مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُورَةِ الْكَهْفِ، عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ».

ژباړه:څوک چې د سورت کهف لومړني لس ايتونه حفظ کړي، نو د جال د فتنې څخه به وساتل شي.

### (٣) « قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ» د ويلو فضيلت:

رسول ﷺ فرمايي: « مَنْ قَرَأَ: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه: څوک چې: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ، لس ځله ووايي، الله جل جلاله به ورته په جنت کې ماڼۍ جوړه کړي .

## دریمه برخه: د اذان او لمونځونو فضیلت:

(۱) سحر د سنتو ثواب:

رسول ﷺ فرمایلي دي:«رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا».

ژباړه: د سحر دوه رکعته سنت لمونځ د دنیا او هغه څه نه غوره دي چې په دنیا کې دي.

(۲) سحر د فرضي لمونځ په جمعه سره دکولو اجر:

نبي ﷺ فرمايې: «مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللَّهِ».

ژباړه: څوک چې د سحر لمونځ په جمعه سره وکړي هغه د الله جل جلاله په ذمواری کې دي.

(۳) تکبير تحريمه(اولني تکبير) د رانيولو ثواب:

رسول ﷺ فرمایلي دي:«مَنْ صَلَّى لِلَّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الأُولَى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ: بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ، وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ».

ژباړه: څوک چې الله جل جلاله د رضايت لپاره څلويښت ورځې په جمعې سره لمونځ وکړي، حال دا چې تکبير تحريمه رانيسي، د ده لپاره به دوه ډوله نجات وليکل شي:جهنم د اور څخه نجات او د منافقت څخه خلاصی.

(۴) جمعې مانځه لپاره د چمتووالي او هغې ته د وختې تللو ثواب:
نبي ﷺ فرمايي:«مَن غَسَلَ يومَ الجُمُعةِ واغتَسَلَ، ثمَّ بكَرَ وابتكرَ، ومشى ولم يَركَب، ودنا مِن الإمامِ فاستَمعَ ولم يَلْغُ، كانَ له بكُل خُطوةٍ عَمَلُ سنةٍ أجرُ صِيامِها وقِيامِها».
ژباړه: څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي، بيا وختې جومات ته پياده لاړ شي، خطبې اوريدلو لپاره امام ته نږدې کښني او عبث کارونه ونه کړي، نو د ده لپاره به په هر قدم اخستلو باندې يو کال د تهجدو او روژې نيولو ثواب وليکل شي.
(۵) د اذان او په لومړی صف کې د لمونځ کولو فضيلت:
رسول ﷺ الل فرمايلي دي:«لوْ يَعلَمُ الناس ما في النداءِ والصفِّ الأَوَّلِ؛ ثم لم يجدوا إلا أن يَستَهمُوا عليهِ لاستَهموا».
ژباړه: که چېرته خلکو د اذان او په لومړی صف کې د لمونځ کولو فضيلت پيژندلي، بيا به دوی نه موندلی بې له دې چې له يو بل سره پرې خسنې(پچه اچونه) واچوي.
(۶) د موکدو سنتو فضيلت:
رسول ﷺ فرمايي:«مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ»: أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلاةِ الْفَجْرِ».
ژباړه: څوک چې په شپه او ورځ کې دولس رکعته سنت لمونځ وکړي، نو الله تعالی به ورله په جنت کې کور جوړ کړي، څلور رکعته د ماسپښين لمانځه نه

مخکې او دوه ترې وروسته، دوه رکعته د ماښام لمانځه نه وروسته، دوه رکعته د ماخوستن لمانځه نه وروسته او دوه رکعته د سحر د لمانځه نه مخکې.

**(٧) د ماخوستن او سحر لمونځ په جمعې سره د کولو اجر:**

نبي ﷺ فرمايي: «مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ، وَمَنْ صَلَّى الصُّبْحَ فِي جَمَاعَةٍ، فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ».

ژباړه: څوک چې د ماخوستن لمونځ په جمعه سره وکړي گويا کې دې انسان نيمه شپه عبادت وکړ، او څوک چې د سحر لمونځ په جمعه سره وکړي گويا کې دې انسان ټوله شپه عبادت وکړ.

**(٨) سحر د لمانځه نه وروسته تر لمر راختلو پورې د الله تعالی ذکر کول او بيا دوه رکعته لمونځ کول:**

رسول ﷺ فرمايي: «مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ، ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللَّهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ تَامَّةٍ، تَامَّةٍ، تَامَّةٍ».

ژباړه: څوک چې د سحر لمونځ په جمعه سره اداء کړي، بيا د لمر راختلو پورې کېني او د الله جل جلاله ذکر کوي، بيا دوه رکعته لمونځ وکړي، نو د ده لپاره به پوره د حج او عمرې په اندازه ثواب وي.

## څلورمه برخه: د ناروغانو پوښتنه او د مړي جنازه کول

### (۱) د جنازې لمونځ کولو او بیا مړي د خښولو ثواب:

رسول ﷺ فرمايلي دي: «مَنْ شَهِدَ الجَنَازَةَ حَتَّى يُصَلِّيَ، فَلَهُ قِيرَاطٌ، وَمَنْ شَهِدَ حَتَّى تُدْفَنَ كَانَ لَهُ قِيرَاطَانِ»، قِيلَ: وَمَا القِيرَاطَانِ؟ قَالَ: «مِثْلُ الجَبَلَيْنِ العَظِيمَيْنِ».

ژباړه: څوک چې د جنازې لمانځه ته حاضر شي نو د هغه لپاره د يو قيراط په اندازه ثواب دی، او څوک چې جنازې ته حاضر شو تر دې چې مړي دفن شي نو د هغه لپاره دوه قيراطه اجر دی، چا وپوښتل چې قيراط څه شی دی؟ هغه وفرمايل: « د دو لويو غرونو په څېر، عبد الله بن عمر رضي الله عنه وويل: يقينا مونږ ډېر قيراطونه ضائع کړي دي.

### (۲) مصيبت ځپلي ته د تسلی ورکولو اجر:

رسول ﷺ فرمايي:«مَنْ عَزَّى مُصَابًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ».

ژباړه: څوک چې مصيبت ځپلي ته تسلي ورکړي نو د هغه لپاره به هم د هغې په شان اجر وي.

همدا شان فرمايي:«مَا مِنْ مُؤْمِنٍ يُعَزِّي أَخَاهُ بِمُصِيبَةٍ، إِلَّا كَسَاهُ اللَّهُ سُبْحَانَهُ مِنْ حُلَلِ الْكَرَامَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».

ژباړه: هيڅ يو مسلمان خپل ورور ته د مصيبت پر وخت تسلي نه ورکوي، مګر دا چې الله جل جلاله به ورته د قيامت په ورځ عزت جامې ورواغوندي.

**(٣) ناروغ د پوښتنې ثواب:**

نبي ﷺ فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ، وإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ».

ژباړه: داسې هېڅ مسلمان نشته چې د سحر په وخت د بل ناروغ مسلمان تپوس وکړي مگر دا چې تر بيگاه پورې به ورله (٧٠٠٠٠) ملائكې د رحمت سوال کوي، او كه چېرته د بيگاه لخوا يې پوښتنه وکړي نو تر سحره پورې به ورله (٧٠٠٠٠) ملائكې د رحمت سوال كوي، او د ده لپاره به په جنت كې د خرماو باغ وي.

## پنځمه برخه: د صدقې كولو ثواب او فضيلت:

**(١) د جومات جوړولو اجر:**

نبي ﷺ فرمايي: «مَنْ بَنَى لله مَسْجِداً وَلَوْ كمِفْحَصِ قَطَاةٍ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتاً فِي الْجَنّةِ».

ژباړه: څوک چې د الله جل جلاله د رضا لپاره جومات جوړ كړي اگر كه د (قطاة نومې) مرغۍ د ځالې هومره هم وي، الله تعالى به ورله په جنت كې كور جوړ كړي.

## (۲) د قرض ورکولو ثواب:

رسول ﷺ فرمايي: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُقْرِضُ مُسْلِمًا قَرْضًا مَرَّتَيْنِ إِلَّا كَانَ كَصَدَقَتِهَا مَرَّةً».

ژباړه: څوک چې يو مسلمان ته دوه ځلې قرض ورکړي، دا داسې ده لکه يو ځل چې يې صدقه کړې وي.

## (۳) د قرضداري او تنگ لاسي سره د اسانتيا کولو اجر:

نبي ﷺ فرمايي:«كَانَ رَجُلٌ يُدَاينُ النَّاسَ» ، « كَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ: إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ، لَعَلَّ اللَّهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا، فَلَقِيَ اللَّهَ، فَتَجَاوَزَ عَنْهُ».

ژباړه: يو سړي به خلکو ته قرض ورکولو او خپل خادم(مزدور) ته به يې ويل: کله چې تنگ لاسي ته ورشي نو اساني ورسره وکړه، ښايي الله جل جلاله له مونږ سره اساني وکړي، د الله جل جلاله سره مخامخ شو نو ښښنه يې ورته وکړه.

## (۴) د صدقې او خيرات ورکولو فضيلت:

رسول ﷺ فرمايلي دي: «مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ».

ژباړه: صدقه او خيرات کول مال نه کموي.

همدا شان يې بل ځای فرمايلي دي: «سَبَقَ دِرْهَمٌ مِائَةَ أَلْفٍ» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ؟ قَالَ: «رَجُلٌ لَهُ دِرْهَمَانِ فَأَخَذَ أَحَدَهُمَا فَتَصَدَّقَ بِهِ، وَرَجُلٌ لَهُ مَالٌ كَثِيرٌ فَأَخَذَ مِنْ عُرْضِ مَالِهِ مِائَةَ أَلْفٍ، فَتَصَدَّقَ بِهَا».

ژباړه: یو درهم د یو لک درهمو څخه مخکې شو، هغوی وویل: ای د الله پیغمبره دا څنګه؟ هغه وفرمایل: یو سړي سره دوه درهم وي نو په یو باندې صدقه وکړي، او بل سړی سره ډېر مال وي نو د خپل مال څخه یو لک درهم راوخلي او صدقه پرې وکړي.

## شپږمه برخه: د روژې نیولو او تراویح کولو فضیلت:

### (١) الله جل جلاله د رضا په خاطر د روژې نیولو فضیلت:

رسول ﷺ فرمایلي دي:« مَن صامَ یوماً في سبیلِ الله؛ بَعدَ اللهُ وجْهَهُ عنِ النارِسبعینَ خریفاً».

ژباړه:څوک چې د الله تعالی په لار کې یوه ورځ روژه ونیسي نو الله جل جلاله به یې مخ د اویا(٧٠)کالو په اندازه د جهنم د اور نه لېرې کړي.

### (٢) عرفې او عاشوراء ورځو د روژو نیولو فضیلت:

له رسول ﷺ څخه عرفې ورځې د روژې نیولو د ثواب پوښتنه وشوه، هغه وفرمایل:«یُکَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِیَةَ وَالْبَاقِیَةَ».

ژباړه:د تېر شوي او راتلونکي کال ګناهونه رژوي.

همدا رنګه ترې عاشوراء ورځې د روژې وپوښتل شو، هغه وفرمایل:«یُکَفِّرُ السَّنَةَ الْمَاضِیَةَ».

ژباړه: د تېر شوي کال ګناهونه ښښي.

### (٣) امام سره د تروایح لمونځ کولو ثواب:

نبي ﷺ فرمایي:« إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا صَلَّى مَعَ الإِمَامِ حَتَّى یَنْصَرِفَ کُتِبَتْ لَهُ قِیَامَ

لَيْلَةٍ».

ژباړه: یقینا کله چې يو سړي د امام سره تراويح وکړي تردې چې امام راستون شي، نو د ده لپاره به ټولې شپې د لمونځ کولو(قيام الليل) ثواب وليکل شي.

## اومه برخه: ذی الحجي مياشتې د لومړنيو لسو ورځو فضيلت:

(١) د نيک حج کولو اجر:

رسول ﷺ فرمايلي دي: «مَنْ حَجَّ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ».

ژباړه: څوک چې الله تعالی د رضا لپاره حج وکړي، د جماع او گناه کولو نه ځان وساتيي نو له حج څخه به داسې راستون شي لکه په کومه ورځ چې مور زيږولی وي.

همدا شان نبي ﷺ فرمايلي دي: «الْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ».

ژباړه د نيک حج لپاره بدله نشته مگر جنت دی.

(٢) لوی اختر د قربانۍ کولو ثواب:

نبي ﷺ صل فرمايلي دي: «سُنَّةُ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ» قَالُوا: فَمَا لَنَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: «بِكُلِّ شَعَرَةٍ، حَسَنَةٌ».

ژباړه: قرباني ستاسو د پلار ابرهيم عليه السلام سنت دی، نو هغوی وويل: نو زمونږ لپاره په کې څه اجر دی، اې پيغمبره؟ رسول الله وفرمايل: د هر ويښته په مقابل کې يوه نيکي ده.

**(۳) د ذی الحجې میاشتې په لومړنیو لسو ورځو کې دنیکو عملونو اجر او ثواب:**

نبي ﷺ فرمايي:«مَا مِنْ أَيَّامٍ الْعَمَلُ الصَّالِحُ فِيهَا أَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنْ هَذِهِ الأَيَّامِ" يَعْنِي الْعَشْرَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ؟ قَالَ: "وَلاَ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، إِلاَّ رَجُلٌ خَرَجَ بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ مِنْ ذَلِكَ بِشَيْءٍ».

ژباړه: د ذي الحجې لسو ورځو په څېر داسې ورځې نشته چې الله جل جلاله ته په کې نیک عمل ډیر محبوب او خوښ وي، نو صحابوو وپوښتل: ای د الله رسوله! د الله په لار کې جهاد هم ورته محبوب نه دی ؟هغه وفرمایل: د الله په لار کې جهاد هم د هغې سره برابر نه دی مګر هغه څوک چې د خپل مال سره د الله په لار کې ووځی او بیا له هیڅ شي سره بېرته راستون نشي.

## اتمه برخه: د ښه نیت،علم او عدالت کولو فضیلت:

**(۱) د نیک نیتی ثواب:**

نبي ﷺ فرمايي:«مَثَلُ هَذِهِ الأُمَّةِ كَمَثَلِ أَرْبَعَةِ نَفَرٍ: رَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً وَعِلْمًا، فَهُوَ يَعْمَلُ بِعِلْمِهِ فِي مَالِهِ، يُنْفِقُهُ فِي حَقِّهِ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ عِلْمًا وَلَمْ يُؤْتِهِ مَالاً، فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ هَذَا عَمِلْتُ فِيهِ مِثْلَ الَّذِي يَعْمَلُ"، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - ﷺ -: "فَهُمَا فِي الأَجْرِ سَوَاءٌ، وَرَجُلٌ آتَاهُ اللَّهُ مَالاً وَلَمْ يُؤْتِهِ عِلْمًا، فَهُوَ يَخْبِطُ فِي مَالِهِ، يُنْفِقُهُ فِي غَيْرِ حَقِّهِ، وَرَجُلٌ لَمْ يُؤْتِهِ اللَّهُ عِلْمًا وَلاَ مَالاً، فَهُوَ يَقُولُ: لَوْ كَانَ لِي مِثْلُ ما لهَذَا عَمِلْتُ فِيهِ مِثْلَ الَّذِي يَعْمَلُ" قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "فَهُمَا فِي الْوِزْرِ سَوَاءٌ».

ژباړه:د دې امت مثال د څلورو کسانو په څېر دي: هغه څوک چې الله جل جلاله ورته علم او مال دواړه ورکړي وي، د علم له لارې خپل مال په خپل ځای(د الله په لار) کې مصرفوي، بل هغه څوک دی چې الله تعالی ورته علم ورکړي وي خو مال يې نوي ورکړي هغه وايي: که چېرته ما سره د پلاني په شان مال وی نو ما به د هغه په څېر مصرف کړي وی، رسول ﷺ وفرمايل: دا دواړه په ثواب او اجر کې يو شان دي، بل هغه کس دی چې الله تعالی ورته مال ورکړي وي خو علم يې نوي ورکړي، نو هغه پخپل مال کې ګډوډ وي، بې ځايه يې(په حقه يې نه) مصرفوي، او بل هغه څوک دی چې الله تعالی ورته علم او مال دواړه نوي ورکړي خو دی وايي:که چېرته ما سره د پلاني په شان مال وي نو ما به د هغه په څېر(بې ځايه) مصرف کړي وی، رسول ﷺ وفرمايل: دا دواړه په ګناه کې سره برابر دي.

## (٢) د علم فضيلت:

رسول ﷺ فرمايلي دي: «مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَبْتَغِي فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّة،وَإِنَّ العَالِمَ لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ مَنْ فِي السَّمَوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ...».

ژباړه: څوک چې علم د زدکړې لار ونيسي نو الله تعالی به ورته د جنت لار اسانه کړي، او يقينا د عالم لپاره دځمکو او اسمانونو اوسيدونکي بښنه غواړي.

## (٣) د عدالت کولو فضيلت:

رسول ﷺ فرمايلي دي:« إِنَّ الْمُقْسِطِينَ عِنْدَ اللَّهِ عَلَى مَنَابِرَ مِنْ نُورٍ عَنْ يَمِينِ الرَّحْمَنِ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِينٌ الَّذِينَ يَعْدِلُونَ فِي حُكْمِهِمْ وَأَهْلِيهِمْ وَمَا وَلُوا».

ژباړه: يقينا عدل کوونکي به د الله تعالى په وړاندې د رڼا په منبرونو باندې د هغه ښۍ لور ته وي او د الله جلا جلاله دواړه لاسونه ښي دي(څرنگه چې د هغه له شان سره مناسب دي) ، دا هغه کسان دي چې پخپله پاچاهۍ، کورنۍ او دوی ته په ورسپارل شوی شيانو کې عدل کوي.

## نهمه برخه: دصبر او جهاد کولو فضيلت:

### (١)په کار کې د سختۍ اسانيدل:

يوه ورځ فاطمه رضي الله عنها د نبي ﷺ نه د خادم غوښتنه وکړه رسول ﷺ فاطمې او علي رضي الله عنهما دواړو ته وفرمايل:«أَلَا أُعَلِّمُكُمَا خَيْرًا مِمَّا سَأَلْتُمَا إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا أَنْ تُكَبِّرَا اللَّهَ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ وَتُسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَتَحْمَدَاهُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ».

ژباړه: ايا تاسو ته هغه څه نه درښايم چې ډېر غوره دي د هغه څه نه چې تاسو يې غوښتنه کړې؟کله چې د خپل خوب ځای کې اړخونه ولگوئ نو (٣۴)ځلې الله اکبر ووايي، (٣٣) ځلې سبحان الله ووايي او(٣٣)ځلې الحمد الله ووايي دا ستاسې لپاره د مزدور نه غوره دي.

### (٢) په سختۍ او تکليفونو باندې د صبر کولو ثواب:

رسول ﷺ فرمايي: «مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ، وَلَا وَصَبٍ، وَلَاهَمٍّ، وَلَا حَزَنٍ، وَلَا أَذًى، وَلَا غَمٍّ، حَتَّى الشَّوْكَةُ يُشَاكُهَا، إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ».

ژباړه: يو مسلمان ته ستړتيا، خفگان، پريشاني، زيان او غم نه رسي، تر دې چې اغزی يې په خپه کې لاړ شي مگر دا چې الله جل جلاله به يې په دې سره

ګناهونه ورژوي.

### (٣) د الله جل جلاله له ویرې د یو کار پرېښودلو اجر:

رسول ﷺ فرمایلي دي: «إِنَّكَ لَنْ تَدَعَ شَيْئًا اتِّقَاءً لِلَّهِ إِلَّا أَعْطَاكَ اللَّهُ خَيْرًا مِنْهُ».

ژباړه: یقینا ته د الله تعالی له ویرې کوم شی نه پرېږدې مګر دا چې الله تعالی به درته د هغې غوره درکړي.

### (٤) د ژبې او شرمګاه د ساتنې ثواب:

نبي ﷺ فرمایي: «مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ».

ژباړه: څوک چې ماته د هغه څه ضمانت راکړي چې د دو ژامو او خپو ترمنځ دي(ژبه او شرمګاه) نو زه به ورله د جنت ضمانت ورکړم.

### (٥) الله جل جلاله نه د رښتني شهادت غوښتلو اجر:

رسول ﷺ فرمایلي دي: «مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ، بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ، وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ».

ژباړه:څوک چې الله تعالی نه په رښتنې د شهادت سوال وکړي الله جل جلاله به یې د شهیدانو مقام ته ورسوي اګر که پخپله بستره کې هم مړ شي.

### (٦) د الله جل جلاله په لاره کې د څوکۍ کولو ثواب:

رسول ﷺ فرمایي:«رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا، وَمَوْضِعُ سَوْطِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا».

ژباړه: د الله جل جلاله په لاره کې یوه ورځ څوکۍ کول د دنیا او څه چې په دنیا کې دي له هغې غوره ده،په جنت کې ستاسې د لښتې (چوکې) په اندازه ځای له دنیا او څه چې په دنیا کې دي له هغې غوره دی.

(٧) د الله تعالى له ویرې د ژړلو اجر:

رسول ﷺ فرمایلي دي:« عَيْنَانِ لَا تَمَسُّهُمَا النَّارُ: عَيْنٌ بَكَتْ مِنْ خَشْيَةِ اللَّهِ، وَعَيْنٌ بَاتَتْ تَحْرُسُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ».

ژباړه: دوه سترګې دې چې هغې ته اور نه رسي، یوه هغه سترګه ده چې د الله تعالى له ویرې ژاړي او بله هغه سترګه ده چې د الله جل جلاله په لار کې څوکۍ کوي.

## لسمه برخه: د ښځو پاللو فضیلت:

### (١) خاوند د خوشحاله ساتلو اجر:

نبي ﷺ فرمایي:«أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ، وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ، دَخَلَتِ الْجَنَّةَ».

ژباړه:هره ښځه چې وفات شي او خاوند ترې راضي وي، جنت ته به ننوځي.

### (٢) لوڼو د روزنې او پالنې ثواب:

رسول ﷺ فرمایلي دي:«مَنِ ابْتُلِيَ مِنَ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ، فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ، كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ».

ژباړه: څوک چې د لوڼو څخه په څه ازمېښت شي، له هغوی سره احسان او ښه رویه وکړي، هغوی به د ده لپاره له اور څخه پرده وګرځي.

### (٣) خپلوۍ د پاللو ثواب:

رسول ﷺ فرمایلي دي:«مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَأَنْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ».

ژباړه: که څوک خوښه ګڼي چې رزق یې پراخه شي او عمر یې زیات شي نو

خپلوي دې وپالي.

## يوولسمه برخه: د محبت او ښې روېې فضيلت:

### (۱) نيکانو خلکو سره د محبت او ناستې فضيلت:

نبي ﷺ فرمايي: «أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ ».

ژباړه: ته به له هغه چا سره يې چې ستا ورسره مينه او محبت وي.

أنس رضى الله عنه وايي:صحابه د دې حديث په څېر په بل څه نه دي خوشحاله شوي.

### (۲) د مؤمنانو نارينو او ښځو لپاره د ښښنې غوښتلو اجر:

رسول ﷺ فرمايلي دي: «مَنِ اسْتَغْفَرَ لِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ كَتَبَ اللَّهُ لَهُ بِكُلِّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ حَسَنَةً».

ژباړه: څوک چې د مؤمنانو سړو او ښځو لپاره ښښنه وغواړي، نو الله تعالى به ورته د هر مؤمن سړي او مؤمنې ښځې په بدل کې يوه نيکي وليکي.

### (۳) چا ته د نيکۍ او خير ښوودلو ثواب:

رسول ﷺ فرمايي: «مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ».

ژباړه: څوک چې نيکۍ او خير ته لارښوونه وکړي د هغه لپاره د نيکۍ کوونکي په څير اجر دي.

### (۴) د بېوزله او کونډې سره د ښيګڼې او مرستې کولو اجر:

نبي ﷺ فرمايي: «السَّاعِي عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ الله أَوْ

iLovePDF

الْقَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ».

ژباړه:د کونډې او بېوزله سره مرسته کوونکی د الله تعالی په لار کې د جهاد کوونکي او یا د هغه چاپه څېر دي چې د شپې تهجد کوي او د ورځې روژه نیسي.

**(۵) یتیم د پالنې ثواب:**

رسول ﷺ فرمایلي دي: «أَنَا وَكَافِلُ الیَتِیمِ فِي الجَنَّةِ هَكَذَا، وَقَالَ بِإِصْبَعَیْهِ السَّبَّابَةِ وَالوُسْطَى».

ژباړه: زه او د یتیم سرپرست به په جنت کې داسې یو، او بیا یې په څپله مسواکۍ او منځنۍ ګوته باندې اشاره وکړه.

**(۶) مسلمان ورور عزت او ناموس نه د دفاع کولو اجر:**

نبي ﷺ فرمایي: «مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِیهِ رَدَّ اللَّهُ عَنْ وَجْهِهِ النَّارَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ».

ژباړه: څوک چې خپل ورور د عزت نه دفاع وکړي، الله تعالی به د قیامت په ورځ ده د مخ نه اور واړوي.

**(۷) د ملاقات او لیدو په وخت کې یو بل ته د لاس ورکولو(مصافحه کولو) ثواب:**

رسول ﷺ فرمایي: «مَا مِنْ مُسْلِمَیْنِ یَلْتَقِیَانِ فَیَتَصَافَحَانِ، إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ یَتَفَرَّقَا».

ژباړه:داسې دوه مسلمانان نشته چې د لیدنې په وخت یو بل ته لاسونه ورکړي، مګر دا چې الله جل جلاله به ورته له جدا کېدو مخکې بښنه وکړي.

## دولسمه برخه: د ښو اخلاقو فضيلت:

### (۱) د ښو اخلاقو اجر:

نبي ﷺ فرمايي: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ الصَّائِمِ الْقَائِمِ».

ژباړه: يقينا مؤمن په ښو اخلاقو باندې د رژوه دار او تهجد کونکي مرتبې ته رسي.

او همدا شان فرمايي:«وَبَيْتٍ فِي أَعَلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسُنَ خُلُقُهُ».

ژباړه: د ښو اخلاقو خاوند لپاره د جنت په اوچته برخه کې يو کور دی .

### (۲) لارې نه د ضررې شيانو د ليرې کولو ثواب:

رسول ﷺ فرمايلي دي: «لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلًا يَتَقَلَّبُ فِي الْجَنَّةِ؛ فِي شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ كَانَتْ تُؤْذِي النَّاسَ».

ژباړه: ما يو سړى وليد چې په جنت کې گرځيدلو، د لارې د منځ څخه هغه ونې د پريکولو له امله چې خلکو ته يې زيان رسولو.

### (۳) د غوسې او قهر د کابو کولو اجر:

نبي ﷺ فرمايي: «مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ يَوْمَ القِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الحُورِ شَاءَ».

ژباړه: څوک چې خپل قهر او غوسه کابو کړي پداسې حال کې چې د پلي کولو توان يې لري، نو الله تعالى به يې د قيامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په مخکې راوبلي تردې چې د حورو په خوښولو کې به اختيار ورکړي.

(۴) د جنجال او درغو پرېښودلو اجر:

رسول ءفرمايلي دي: «أَنَا زَعِيمُ بَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ، وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا، وَبَيْتٍ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا ».

ژباړه: زه د جنت په غاړه کې هغه چا لپاره د کور زموار يم چې جنجال پرېږدي اگر که په حقه هم وي، او همدا رنگه د جنت په مينځ کې هغه چا لپاره د کور زموار يم چې دروغ پرېږدي اگر کې په ټوکو کې ول نوي.

**دیارلسمه برخه: الله جل جلاله سره اړيکې د ساتلو فضيلت:**

(۱) د اخرت په اړه د فکر کولو اجر:

رسول ﷺ فرمايلي دي:«مَنْ كَانَتِ الآخِرَةُ هَمَّهُ جَعَلَ اللَّهُ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ، وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ».

ژباړه: د چا سوچ او فکر چې د اخرت په اړه وي، الله تعالی به يې په زړه کې قناعت پيدا کړي، او خورا کارونو به يې راټول شي، دنيا به ورته پداسې حال کې راځي چې ذليله به وي.

(۲) په الله جل جلاله باندې د رښتني توکل کولو فضيلت:

نبي ﷺ فرمايي: «لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللَّهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ؛ لَرَزَقَكُمْ كَمَا تُرْزَقُ الطَّيْرُ، تَغْدُو خِمَاصًا، وَتَرُوحُ بِطَانًا».

ژباړه: که چېرته تاسو په الله جل جلاله باندې په رښتني سره توکل وکړئ، نو تاسې ته به د مرغانو په څېر رزق درکړي، چې سحر تشې ججورې ځي او ماښام ډکې ججورې بېرته راستنېږي.

# پای

الله جل جلاله دی په دنیا او اخرت کې زمونږ حفاظت او ساتنه وکړی
وصلی الله علی نبینا محمد وعلی آله وصحبه اجمعین

أبو محمد عبد الله بن محمد بن عبد الرحمن السدحان
شقراء/ لومړی محرم د چهارشنبی شپه کال:۱۴۱۸ هجری قمری

iLovePDF

# د موضوعاتو نوم لړ:

د شيخ د/ عبد الله بن عبدالرحمن بن جبرين تقريظ...... ۳
د ليكوال سريزه ........................................ ٥
ژغورونـــــكى وينـــــــــاوې .......................... ۸
لومړى: بسم الله ويل ................................ ۸
دوهم: سورت فاتحه لوستل ............................ ۱۱
دريم: ايت الكرسى لوستل: ............................ ۱٦
څلورم: د سورت بقرى وروستى دوه ايتونه لوستل: ........ ۲۰
پنځم: سورت اخلاص او معوذتين لوستل:.................. ۲۳
شپږم: لاندى كلمات زيات لوستل: ...................... ۲۷
«لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ». ............................ ۲۷
اوم: لاندى كلمات لوستل:............................. ۲۹
«بِسـمِ اللهِ الذي لا يَضُـرُّ مَعَ اسمِـهِ شَيَءٌ في الأَرْضِ وَلا في السّمـاءِ وَهـوَ السّمـيعُ العَلـيم ».............................. ۲۹
اتم:لاندى كلمات لوستل: .............................. ۳۲
«أعـوذُ بِكَلِمـاتِ اللّهِ التّـامّـاتِ مِنْ شَـرِّ ما خَلَـق». .......... ۳۲
نهم:لاندى كلمات لوستل: .............................. ۳٤
«حَسْبِـيَ اللّهُ لا إلهَ إلاّ هُوَ عَلَـيهِ تَوَكَّـلتُ وَهُوَ رَبُّ العَرْشِ العَظـيم». ........................................ ۳٤
لسم:لاندى كلمات لوستل:.............................. ۳٥

iLovePDF

«بِسْمِ اللهِ ، تَوَكَّلْـتُ عَلى اللهِ وَلا حَوْلَ وَلا قُـوَّةَ إِلاّ بِالله». .. ٣٥
يوولسم : لاندى کلمات لوستل: ........................ ٣٦
«لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ». ........................ ٣٦
دولسم: لاندى کلمات ویل: ........................ ٤١
«أَعُوذُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ، وَبِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ، وَبِسُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ، مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ». ........................ ٤١
دیارلسم:له الله جل جلاله زیاته ښښنه غوښتل، چې تر ټولو غوره يې (سيد الإستغفار) دى: ........................ ٤٢
څوارلسم: پر رسول صلى الله عليه وسلم زيات درود ويل: ٤٦
پنځلسم: لاندى کلمات ويل: ........................ ٥٠
« أَسْتَوْدِعُكُمُ اللَّهَ الَّذِي لَا تُضِيعُ وَدَائِعُهُ». ........................ ٥٠
شپاړسم: لاندى کلمات ويل: ........................ ٥٢
:« الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا ». ........................ ٥٢
ژغورونـــــکى عمـــــــــلونه ........................ ٥٥
لومړى: د سحر لمونځ په جمع کول ........................ ٥٥
دوهم:په پټه او ښکاره صدقه کول ........................ ٥٧
د ازميښت حکمت، او د راتلو پر وخت يې روا کړنې ....خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**د مؤمنانو او نيكانو په ازميښت او امتحانولو كې حكمتونه او ګټې دى چې ځينې په لاندې ډول دي:**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**(۱) ازميښت او امتحان د ايمان نښه ده:**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**(۲) ازميښت او تكليف راتلل الله جل جلاله خپل بنده سره د مينې او محبت نښه ده:** ............ خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**(۳) ازميښت او ابتلاء دالله جل جلاله له لورى خپل بنده ته د سلامتيا او خير د ارادې نښه ده..** خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**(۴) ازميښت او مصيبت ګناهونه رژوى اګر كه لږ هم وى:**.................................. خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**كله چې مصيبت او تكليف د الله جلاله په تقدير واقع شى نو مسلمان لپاره لاندې كړنې روا دي:**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**(۱) صبر كول:.** ................ خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**(۲) دالله جل جلاله په پريكړه او قضاء رضايت:**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**(۳) شكر ويستل:** ............... خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**ځينې هغه ويناوې او كارونه چې د نبى صلى الله عليه**

**وسلم نه په کې لوی اجر او ثواب ثابت دی:** ..................... ٦٧

**لومړی: اسانه او غوره ويناوې چې اجر او ثواب يې څو چنده دی.** ................................ خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**دويم: د ځينو ايتونو فضيلت.** ..... خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**دريم: د اذان او لمونځونو فضيلت** خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**څلورم: د ناروغانو پوښتنه او د مړی جنازه کول**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**پنځم: د صدقی کولو ثواب او فضيلت**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**شپږم: روژی او د تراويح کولو فضيلت**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**اوم: ذی الحجی مياشتی د لومړنيو لسو ورځو فضيلت** ....خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**اتم: د ښه نيت،علم او عدل کولو فضيلت**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**نهم: د صبر او جهاد کولو فضيلت**.. خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**لسم: د خپلوی پاللو فضيلت**....... خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**يوولسم: د محبت او ښی رويې فضيلت**خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

**دولسم: د ښو اخلاقو فضيلت**...... خطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

ILovePDF

ديارلسم: الله جل جلاله سره د تعلق ساتلو فضيلتخطأ! الإشارة المرجعية غير معرّفة.

پای ................................................................ ٨٧

iLovePDF